# الرسالة

Al-Risala



Ketabton.com

دوولسمه ګڼه – دسمبر، ۲۰۲۵ز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الرسالة

Al-Risala

دوولسمه ګڼه – دسمبر، ۲۰۲۵ ز

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

## په دې ګڼه کې


| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| په سرچپه جهت | ۵ |
| قال الله، قال الرسول | ۶ |
| څو پېښنې | ۱۵ |
| اسلامي تعليمات: يوه فکري مطالعه | ۱۷ |
| اسلام: د توري پای، د دعوت پيل | ۳۱ |
| اهداف او واقعات | ۳۹ |
| د بزرګۍ ثبوت نه دي | ۴۴ |


او نور ډېر څه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په سرچپه جهت

یوه ټوکه ده، چې په کابل کې يو ځوان سرک په روان و او غوښتل يې چې ځان د پارلمان ودانۍ ته ورسوي. خو دی پارلمان تـه د ورغلـې لارې پـه مخـالف جهـت کـې روان و. په لاره کې يې له يوه لاروي وپوښتل، چې دا پارلمان به له دې ځايه څومره لرې وي؟ لاروي ورته وويل، شاوخوا پنځه ويشت زره ميلـه. مسـافر وارخطـا شـو او ويې وويل: وروره! زه درنه د لارې پوښتنه کوم او ته راسره ملنډې وهې. هغه وويـل، وبښه، ټوکه مې نه ده کړې. په اصـل کـې تاسـې د پارلمـان پـه مخـالف لـوري روان ياستئ. نو ځکه مې وويل، چې په دې مسير باندې يوازې هغه وخت خپل منـزل تـه رسېدی شئ، چې له ټولې ځمکې نه يو وار راتاو شئ او د ځمکې ټول گردوالی پنځه ويشت زره ميله دی. او دا خبره هم هغه وخت سمه ده، چې د عرض البلد په هماغه خط لاړ شئ، چې د پارلمان ودانۍ ورباندې ودانه ده. ياني کـه لـږ هـم ښـي يـا کـيڼ لوري ته کاږه شئ، نو له ټولې ځمکې نه چې هر څومره ځله هم تاو شئ، بيا بـه هـم خپل منزل ته ونه رسېږئ.»

د پارلمان د ودانۍ هېڅ مسافر به هم دغه راز تېروتنه ونه کړي. په دې چې خلک په خپلو دنيوي چارو کې دومره ناپوه نه وي، چې تېروتنه دې ورته واضحه شوې وي او دوی دې بيا هم په سرچپه لوري روان وي. خو عجيبه خبره ده، چې د آخـرت پـه معامله کې ډېری خلک په همدې تېروتنه کې مبتلا دي. تېروتنې په گوته کوونکي د هغوی تېروتنې ور په گوته کوي او د هغوی زړه هم شاهدي ورکوي، چې زه په غلط يم. خو په شعوري يا لاشعوري ډول هغـوی لـه دې نـه د عـزت او نـوم مسـئله جوړه کړې وي. «که مې د ده په ويلو خپلـه تېروتنـه ومنلـه، نـو زه بـه وړوکـی شـم.» دې احساس د دوی لارې تړلې او خپله ناسمه لاره يې نيـولې وي تـر دې چـې د تبـاهي کندې ته وغورځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قال اللّٰه، قال الرسول

## بسم الله الرحمن الرحيم

ووايه: هغه (ايکي) يو الله دی. الله بې پروا دی. نه يې زېږولي او نه زېږېدلی دی. او نه يې هېڅ څوک سيال شته.

**(قرآن، سوره اخلاص)**

الله هماغه دی چې له ده پرته بل معبود نشته تل ترتله ژوندی سمبالونکی دی، نه پرکالي پرې راځي او نه خوب، څه چې په اسمانو کې دي  او څه چې په ځمکه کې دي (ټول) د هغه دي،  دا به څوک وي چې د هغه له خوښې پرته دچا سپارښتن ورته وکړي؟ په هر هغه څه پوهېږي چې د دوی مخې یا یې شاته دي، او دوی د هغه له معلوماتو هېڅ شی نه شي راګيرولای مګر هغه چې د ده خوښه وي، کرسی يې ارته (محيط) ده په اسمانو او ځمکې او د دې دواړو (ځمکی او اسمان) ساتنه يې نه ستومانه کوي او هغه لوی اوچت ذات دی.

**(بقره: ۲۵۵)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

او له خلکو ځيني (کسان) پرته له الله نه داسې سيالان نيسي چې د الله په څېر مينه ورسره کوي او چا چې ايمان راوړی هغوی خو د الله په مينه کې ډېر کلك دي. او که ظالمانو ليدلای هغه څه چې د عذاب ليدو پر وخت به يې گوري چې بې شکه ټول ځواك الله لره دی او رښتيا چې الله سخت عذاب ورکونکی دی. کله چې مشران به له خپلو تابعانو (کشرانو) بېزاره وي او عذاب ( هم) ويني او ټولې اړيکې پرې وشلېږي. او چا چې متابعت کړی، وبه وايي که مو (دنيا ته) بېرته گرځېدل وای نو له دوی به داسې بېزاره شوي وو لکه دوی چې له موږ نه بېزاره شول، همداسې به يې الله عملونه وروښيي، افسوسونه دي په دوی باندې او له اوره به وتونکی نه وي.

(بقره: ۱۶۵– ۱۶۷)

بې شکه الله دا نه ښني چې له ده سره شرک وشي، خوله دې راښکته (هر څه) چاته چې وغواړي ښني يې، او چا چې الله سره شريك ونيوه، نو يقيناً چې (له حق نه) په ډېر لرې  بې لاريتوب کې ولاړ.

(نساء: ۱۱۶)

اې خلکو د خپل خدای عبادت وکړئ، هغه چې تاسې يې پيدا کړئ او له تاسې ړومبی، د دې لپاره چې ځان وساتئ. هغه چې ځمکه يې درته فرش او اسمان يې چت گرځولی. او له اسمانه يې اوبه راتويې کړې چې په هغو سره يې ميوې درته راوويستې، ستاسو د خوراك لپاره، نو الله لره سيالان مه ټاکئ حال داچی ښه پوهېږئ.

(بقره: ۲۲– ۲۱)

بې شکه الله تاسو ته امر کوي چې امانتونه خپل اهل ته وسپارئ او چې کله مو د خلکو ترمنځ فيصله کوله نو په عدل سره فيصله وکړئ، بې شکه الله تاسو ته د غوره څيز نصيحت کوي، يقيناً الله ليدونکی اورېدونکی دی.

(نساء: ۵۸)

خبره دا ده چې (رښتيني) مؤمنان هغه کسان دي چې کله د الله نوم ياد شي زړونه يې ووېرېږي او کله چې ايتونه يې ورباندې ولوستل شي نو ايمان يې ور زيات کړي او په خپل رب بروسه کوي. هغوی چې لمونځ ادا کوي او له هغه څه نه چې موږ ور روزي کړي لگښت کوي. هماغه کسان په حقه مؤمنان دي، هغوی لره يې له خپل رب سره درجې، ښښه او غوره روزي ده.

(انفال: ۲– ۴)

(يوازې) دا نېکي نه ده چې مخونه مو ختيځ او (يا) لويديځ ته وگرځوئ خو دا نېکي ده چې څوك په الله، وروستی ورځ، ملايکو، کتاب او نبيانو ايمان راوړي او (خپل) مال سره له مينې (اړتيا) خپلوانو،  يتيمانو، مسکينانو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لارویو ( مسافرو) او سوالګرو ته ورکوي او په مريانو ازادولو کې يې (لګوي) او لمونځ (سم) اداکوي، زکات ورکړي، چې کله ژمنه وکړي نو په خپلو ژمنو درېدونکي وي، او صبر کوونکي په کړاوو، رنځونو او جګړې په مهال، دا خلك همدوی رښتيا کړي او همدوی ځان ساتونکي دي.

(بقره: ۱۷۷)

او کله چې هغه څه واوري کوم چې دې رسول ته نازل شوي نو ته به ګورې چې په سترګو کې يې حق پېژندو سره اوښکې ډنډېږي، وايي زموږ ربه! موږ ايمان راوړی نو له شاهدي ويونکو سره مو وليکه. او موږ به ولې په الله ايمان نه راوړو او په کوم حق چې موږ ته راغلی په داسې حال کې چې موږ دا هيله هم کوو چې خپل رب مو په صالحو خلکو کې داخل کړي. نو الله هغوی ته د دې خبرې په بدله کې داسې جنتونه ورکړل چې ترې لاندې يې ويالې بهيږي، تل ترتله پکې اوسېدونکي او همدا د نېکانو بدله ده.

(مائده: ۸۳– ۸۵)

هغوی چې خپل مالونه د الله په لار کې لګوي بيا په خپلو لګښتونو پسې منت بارول او ځورول نه کوي نو له خپل رب سره يې اجرونه دي چې نه به پر دوی څه ډار وي او نه به خپه کيږي. ښه خبره او بښنه تر هغه خيراته ډېره غوره ده چې ځورول ورپسې وي او الله خو د ډېر زغم والا غني ذات دی. اې مؤمنانو! خپل خيراتونه مو په احسان بارولو او کړولو مه باطلوئ، لکه هغه کس چې خپل مال خلکو ته د ځان ښودنې په خاطر لګوي حال دا چې په الله او ورستی ورځ ايمان هم نه لري.

(بقره: ۲۶۲– ۶۴)

اې مؤمنانو! څو څو برابره زيات سود مه خورئ او الله نهووېرېږئ ترڅو بريالي شئ. او له هغه اوره ځان وساتئ، چې کافرانو ته چمتو شوی دی. او د الله او رسول اطاعت وکړئ ترڅو رحم دربانديې وشي. او د خپل رب د بښنې او هغه جنت په لوري بيړه وکړئ چې پلنوالی يې (لکه) اسمانونه او ځمکه ده، متقيانو ته چمتو شوی. هغوی چې په ارته او تنګسه کې لګښت کوي او غوسه زغمونکي او له (بدی د) خلکو تېرېدونکي او الله (داسې) نېکان خوښوي. او هغوی چې کله څه لويه ګناه او يا پر ځانو ظلم وکړي نو الله ياد کړي او د خپلو ګناهونو بښنه وغواړي او الله نه پرته څوك دي چې ګناه ښنلی شي او په خپلو کړيو (ګناهونو) ټينګار هم نه کوي کله چې ښه پوهېږي. د دې خلکو بدله د خپل رب له لوري بښنه ده او داسې باغونه چې ويالې ترې لاندې بهيږي، تلپاتې په هغه کې او د (ښه) عمل کوونکو اجر څومره ښه دی.

(عمران: ۱۳۰– ۱۳۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ستا رب حکم کړی دی چې له هغه پرته بل څوك مه لمانځئ، او مور پلار سره ښېګڼه کوئ. که تاسره يو له هغو يا دواړه يې زړښت ته ورسېږي نو هغوئ ته اُف قدرې مه وايه، رټه يې مه او هغوی سره په درناوي خبرې کوه. او په رحمت سره هغوی دواړو ته مات غاړی اوسه او داسې وايه چې اې زما ربه، پر دواړو داسې رحم وکړې لکه زه يې چې وړوکی روزلی يم. ستاسې رب په هغه څه ډېر ښه پوه دی چې په زړونو کې مو دي، که تاسو صالحان اوسئ نو بې شکه هغه توبه کوونکو دپاره بښونکی دی. او خپلوی والا ته يې حق ورکوه او مسکين او لاروي ته او بې ځايه لګښتونه مه کوه. يقيناً بې ځايه لګښت کوونکي د شيطانانو ورونه دي او شيطان خو د خپل رب ناشکره دی. او که تا له هغو نه څنګ کولو د خپل رب د هغه رحمت په لټون چې هيله يې کوې نو بيا هغوی ته پسته نرمه خبره وکړه. او خپل لاس دې مه تر غاړې تړلی نيسه او مه يې داسې بشپړ پرانيستی چې بيا پړ او پښېمانه کېنې. بې شکه ستا رب چاته چې وغواړي روزي پراخوي او (يا يې) تنګوي، هغه پر خپلو بندګانو ښه باخبر ليدونکی دی. او خپل اولاد مو د نېستی له وېرې مه وژنئ، موږ هغوی ته هم روزي ورکوو او تاسو ته هم، د هغوی وژل خو يقيناً لويه ګناه ده. او زنا ته مه نيږدې کېږئ هغه يو ډېر ناوړه کار او بده لاره ده. او هغه کس مه وژنئ چې الله حرام کړی دی مګر په حقه، او هر څوك چې په ظلم سره ووژل شو نو حقيقتاً موږ يې وارث ته (د بدل اخيستو) قوت ورکړی خو په وژلو کې به زياتی نه کوي، بې شکه هغه سره مرسته شوې ده. او د يتيم مال ته مه ورنيږدې کېږئ مګر په هغه توګه چې ډېره ښه وي، تر هغو چې خپلې ځوانۍ ته ورسېږي او په لوز وفا کوئ، د لوز په هکله يقيناً تپوس کېدونکی دی. او چې پيمانه کوئ نو پوره يې ورکوئ او چې تول کوئ نو په سمه تله، دا ښه او په انجام کې ډېره غوره (طريقه) ده. او په هغه څه پسې مه کېږه چې تاته يې پوهه نه وي، غوږ، سترګې او زړه دا ټول پوښتل کېدونکي دي. او د لويي په نخرو په ځمکه کې مه ګرځه، بې شکه ته نه ځمکه څيرولی شې او نه په هسکوالي غرونو ته رسېدلی شې. د دې ټولو چارو بدي ستا د رب په وړاندې ناخوښه ده. دا هغه د حکمت خبرې دي چې خپل رب دې تاته وحي کړې دي. او (پام کوه) الله سره کوم بل خدای مه نيسه، کنه بيا به جهنم کې پړ او ديکه شوی غورځول کېږې.

(بني اسرائيل: ۲۳– ۳۹)

او کله چې لقمان خپل زوی ته په نصيحت کې وويل: اې زوی‌کيه الله سره څه مه شريکوه، يقيناً شرك يو ستر ظلم دی. او موږ انسان ته د هغه د مور او پلار په هکله نصيحت کړی دی، (ځکه) چې مور يې د سستی دپاسه سستۍ حالت کې بار کړی دی او (له تي) بېلول يې په دوو کلونو کې دي چې زما شکر وباسه او د مور و پلار دې، خاص زما په لور راتله دي. او که چېرې هغوی دواړه پر تا زور واچوي چې ماسره هغه څه شريك کړې چې تاسره د هغه څه علم نشته نو بيا د هغوی مه منه، خو په دنيا کې ښه ګوزران ورسره کوه، او د هغه چا لاره پسې ځه چې زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خوا راګرځېدلی وي، بیا ستاسې راتلل زما په لور دي نو زه به مو په هغه څه خبروم چې تاسې به کول. اې زوی‌کیه! یقیناً که هغه (عمل) د اوري د یوې دانې په اندازه او بیا هغه هم په یو ګټ، یا (چېرته) په اسمانو یا ځمکه کې وي، الله به یې راوړي، بې شکه الله ډېر باخبره باریک لیدونکی دی. اې زوی‌کیه! لمونځ ترسره کوه، د نېکۍ امر کوه، له بدۍ منع کوه او څه چې در ورسېږي په هغه صبر کوه. یقیناً دا له مهمو کارو څخه دي. او (په کبر سره) له خلکو مخ کوږ مه نیسه او مه په ځمکه کې په ناز او نخرو ګرځه، بې شکه د الله یو کبرجن او لاپو هم ښه نه ایسي. او خپل تګ کې منځنی اوسه او غږ دې لږ ورو کړه، شک نشته چې تر ټولو غږونو ناکاره غږ د خرو وي.

(لقمان: ۱۳- ۱۹)

حقیقتاً هغه مؤمنان بریالي کېدونکي دي چې هغوی په خپل لمانځه کې عاجزي کوونکي دي. او هغوی چې له چټیاتو ډډه کوونکي دي. او هغوی چې د زکات ادا کوونکي دي. او هغوی چې د خپلو عورتونو ساتونکي دي. پرته له مېرمنو او خپلو وینځو یې چې په هغو کې دوی د ملامتی وړ نه دي. خو څوک چې له دغو پرته نور څه غواړي نو هغوی تېری کوونکي دي. او هغوی چې د خپلو امانتونو او ژمنو خیال ساتونکي دي. او هغوی چې (تل) د خپلو لمنځونو ساتنه کوي. همدوی وارثان دي. چې فردوس په میراث اخلي، هم هلته به دوی تل اوسېدونکي وي.

(مؤمنون: ۱- ۱۱)

او د رحمان (اصلی) بندګان هغه دي چې په ځمکه ورو ورو (په عاجزۍ) درومي او کله چې جاهلان ورسره مخامخ شي وايي سلام دې وي. او هغه کسان چې خپل رب ته په سجده او ولاړه شپې تېروي. او هغوی چې وايي اې زموږ ربه! د جهنم عذاب رانه (بل خوا) وګرځوې، ځکه چې د هغه عذاب تل په خلکو پسې لازمي نښتی دی. هغه ډېر بد ټاټوبی او استوګنځی دی. او هغوی چې کله لګښت کوي، نو نه زیاتی کوي او نه کنجوسي، بلکې د دې ترمنځ سم برابر وي. او هغوی چې الله سره بل خدای نه رابولي او نه پرته له حقه هغه کس وژني چې الله حرام کړی وي او نه زنا کوي او څوک چې داسې وکړي، هغه به خپله ګناه مومي. د هغه دپاره به د قیامت په ورځ عذاب مکرر کړی شی او همېشه به پکې خوار ذلیل پروت وي. پرته له هغه چې توبه وباسي، ایمان راوړي او عمل وکړي، نېک عمل، نو دا خلك چې دي الله به یې بدۍ په نېکیو بدلې کړي او الله ښښونکی مهربان دی. او چا چې توبه وایسته او ښه کارونه یې وکړل نو یقیناً هغه الله ته ورګرځي، څنګه چې ښايي هغسې ورګرځېدل. او هغوی چې د دروغو شاهدي نه وايي، او کله چې په کوم عبث کار ورشي نو درانه ورنه تېر شي. او هغوی چې کله د خپل رب په ایتونو نصیحت ورته کېږي نو ځانونه پرې کاڼه،ړانده نه اچوي. او هغوی چې وايي: زموږ ربه! موږ ته له خپلو مېرمنو او خپلخانو د سترګو یخوالی راکړه او موږ د متقیانو امامان وګرځوه. دوی هغه خلك دي چې په بدله کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هسکه مانړۍ ورکول کېږي په دې چې صبر یې کړی وو او هلته به یې په دعا او سلام هرکلی وشي. تلپاتې په هغو کې (د) غوره ارام ځای او استوګنځی دی.

(فرقان: ۶۳– ۷۶)

اې مؤمنانو خلکو! یو قوم دې پر بل ملنډې نه وهي، ښایي هغوی ترې غوره وي او نه دې ښځې پر ښځو، ښایي هغوی ترې غوره وي او یو پر بل عیبونه مه وایئ او مه یو تر بله بد نومونه اخلئ. له ایمانه وروسته د فسق نوم (یادول) ډېر بد دي او څوك چې توبه نه باسي هم هغوی ظالمان دي. اې مؤمنانو! له زیاترو بدګومانیو ځان وساتئ، یقیناً ځینې بد ګومانونه ګناه دي او (د چا عیب) پلټل مه کوئ او یو د بل غیبت مه کوئ. ایا ستاسې کوم یو دا خوښوي چې د خپل مړه ورور غوښه وخوري؟ نو تاسې خو یې بده ګڼئ، بې شکه الله ښه توبه قبلوونکی مهربان دی.

(حجرات: ۱۱– ۱۲)

چا چې نېک عمل وکړ، که نارینه وي که ښځینه خو چې مؤمن وي نو حتماً به ښه ژوند ورباندې تېر کړو او (اخرت کې به) د هغو نېکو عملونو چې دوی به کول، ښه بدله ورکړو. (۹۷) بې شکه الله هغو کسانو سره (مل) دی چې تقوی کوي او هغوی چې نېك چاري دي.

(نحل: ۱۲۸)

او څوك چې زما له ذکره مخ واړوي، د هغه دپاره تنګ ژوند دی او د قیامت په ورځ به یې ړوند راپاڅوو. بیا به وایي زما ربه ولې دې ړوند راپاڅولم زه خو سترګور وم. الله به وفرمایي: همدغه شان زموږ ایتونه تاته راغلي وو خو هېر دې کړل او همداسې به نن ته هم هېرېږې. او په همدې ډول بدله ورکوو هغه چاته چې له بریده اوښتی وي او د خپل رب ایتونه یې نه وي منلي او د اخرت عذاب خامخا ډېر سخت او ډېر پایېدونکی دی.

(طه: ۱۲۴– ۲۷)

هغه د اخرت کور موږ د هغو کسانو دپاره ټاکو چې په ځمکه کې لویي او فساد کول نه غواړي او ښه انجام د متقیانو دی. چا چې نېکي راوړه نو د هغه دپاره لا ترې زیاته ښه (نېکي) ده، او څوك چې له بدۍ سره راشي نو بیا هغوی ته چې بدۍ یې کړې وي، له خپل عمله پرته بله بدله نه ورکول کېږي بې شکه هغه ذات چې دا قران یې درباندې نازل کړی دی حتماً هماغه د وعدې ځای (ړومبنی ځای یا مکې) ته بېرته ستا بیوونکی دی.

(قصص: ۸۳– ۸۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا نو چا چې سرکښي کړې وي او دنیوي ژوند یې غوره ګڼلی وي. یقیناً همدا دوزخ به یې استوګنځی وي. او څوک چې د خپل رب په مخ کې درېدلو نه ډار شوی او ځان یې له هوسونو ساتلی وي. نو بې شکه جنت یې استوګنځی دی.

(نازعات: ۳۷- ۴۱)

او هرڅوک چې له اسلامه پرته بل دین لټوي نو هېڅکله به ترې قبول نه شي او هغه به په اخرت کې له تاوانیانو وي.

(آل عمران: ۸۵)

## د نبوت وینا

ابو مسعود انصاري رضي الله عنه وایي، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د تېر نبوت له وینا نه چې خلکو ته کومې خبرې رسېدلې دي، په هغو کې یوه دا هم ده، چې که شرم او حیا درکې نه وي، نو بیا دې چې څه زړه غواړي، کوه یې. (رواه البخاري)

الله تعالی ستاسې مالونو او ستاسې شکلونو ته نه ګوري، بلکې هغه خو ستاسې زړونو او ستاسې کړنو ته ګوري. (رواه مسلم)

زړور هغه نه دی، چې یو څوک راوپرځوي. زړور هغه دی، چې د غوسې په وخت کې په ځان واک ولري. (متفق علیه)

په یوه خبره کې چې شک وګورئ، نو لاس ورنه واخلئ، او چې شک په کې نه وي، نو در خپله یې کړئ. څکه رښتیا ډاډ دی. او دروغ شک دی. (رواه الترمذي)

تاسو چې هر چېرې اوسئ، له الله نه ووېرېږئ. له بدی وروسته نېکي وکړئ، هغه به مو بدي ورژوي. او له خلکو سره ښه اخلاق وکړئ. (رواه الترمذي)

عقلمن هغه دی، چې خپل نفس وځپي او د مرګ نه وروسته (ژوند) لپاره عمل وکړي. عاجز هغه دی، چې خپل نفس په هوسونو پسې کړي او په الله پورې هیلې وتړي. (رواه الترمذي)

د بنده د اسلام ښېګنه په دې کې ده، چې له هغه څه نه لاس واخلي، چې بې ګټې وي. (رواه الترمذي وغیره)

د قیامت په ورځ به حقدارو ته خپل حقونه ورکول شي. تر دې چې له ښکرورې اوزې نه به د بې‌ښکره اوزې حق هم واخیستل شي. (رواه مسلم)

څوک چې په بندګانو رحم نه کوي، الله په هغه باندې رحم نه کوي. (متفق علیه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمان هغه دی، چې له لاس او ژبې نه يې نور خلک په امان کې وي او مهاجر هغه دی، چې له هغه کار نه لاس واخلي، چې خدای ورنه منع کړې وي. **(متفق عليه)**

په تاسې کې تر هغو يو بنده نه شي مؤمن کېدی، تر څو چې د خپل ورور لپاره هماغه څه خوښ نه کړي، چې د ځان لپاره يې خوښوي. **(متفق عليه)**

په تاسو کې هر يو، شپونکی دی او هر يو به د خپلې رمې په اړه پوښتل کېږئ. **(متفق عليه)**

په خدای قسم هغه مؤمن نه دی، په خدای قسم هغه مؤمن نه دی، چې له شر او ضرر نه يې ګاونډی په امن نه وي. **(متفق عليه)**

له ځانه ټيټو خلکو ته وګورئ. هغو ته مه ګورئ، چې په رتبه کې له تاسې لوړ دي. په دې ډول به تاسې د خدای نعمتونه حقير نه وينئ. **(متفق عليه)**

يو سړی نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته راغی او ويې ويل: اې د خدای رسوله، ماته يو داسې عمل وښايئ، چې راخپل يې کړم، الله راسره مينه وکړي او خلک هم راسره مينه وکړي. پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل، له دنيا سره خپله علاقه پرې کړه، الله به درسره مينه وکړي او له خلکو سره چې کوم څه دي، له هغو نه خپله علاقه غوڅه کړه، نو خلک به درسره مينه وکړي. **(رواه ابن ماجه وغيره)**

دوه وږي لېوان چې د اوزو په رمه کې پرېښودل شي، نو هغوی رمې ته دومره زيان نه شي رسولی، څومره چې د مال او عزت حرص د بنده دين ته تاوان رسوي. **(رواه الترمذي)**

بريالی شو، هغه شخص چې اسلام يې غوره کړ، د ګوزارې هومره خواړه ور ورسېدل او الله چې څه ورپېرزو کړي دي، په هغو باندې قانع شو. **(رواه مسلم)**

دا مه وايئ، چې که خلک ښه چلند وکړي، نو موږ به هم ښه چلند وکړو او که خلکو بده رويه وکړه، نو موږ به هم ظلم کوو. بلکې خپل ځان دې ته اماده کړئ، چې خلک درسره ښه رويه وکړي، نو تاسې هم ښه رويه وکړئ. که خلک درسره بده رويه وکړي، تاسې ظلم ونه کړئ. **(مشکوة باب الظلم)**

نېکي د ښو اخلاقو نوم دی. ګناه هغه ده چې په زړه کې ځړيکه وکړي، او بده ګڼئ چې خلک ورباندې خبر شي.

بنده تر هغې پورې د تقوا درجې ته نه شي رسېدی، تر څو يې چې حال دا نه وي چې د ګناه په انديښنه کې هغه شی هم پرې نه ږدي، چې په ظاهر کې ګناه نه وي. **(رواه الترمذي)**

يوه سړي وپوښتل: اې د خدای رسوله! په خلکو کې غوره څوک دی، پيغمبر عليه السلام وفرمايل، هغه چې د الله په لاره کې په ځان او مال سره جدوجهد وکړي. ويلې بيا څوک؟ ويې فرمايل: هغه چې له الله ووېرېږي او خلک له خپل شر نه وژغوري. **(متفق عليه)**

جنت ته به هغه سړی داخل نه شي، چې په زړه کې يې د اوري د داني هومره هم کبر وي. ويې پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

كبر څه دی. وېي فرمايل: حق خبره نه منل او خلك سپك ګڼل. (رواه مسلم)

څوك چې په الله او د اخرت په ورځې ايمان لري، نو بايد د خبرو په وخت كې ښه خبره وكړي، كه نه وي غلی دې وي. (متفق عليه)

نبي كريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل، ايا تاسو پوهېږئ، چې غيبت څه دی؟ خلكو ځواب وركړ. الله او د هغه رسول ډېر بهتر پوهېږي. پيغمبر عليه السلام وفرمايل: دا چې تاسې د خپل ورور په حق كې داسې خبره وكړئ، چې هغه يې بده ګڼي. وېلې، كه هغه خبره زما په ورور كې وي، بيا؟ وېي فرمايل: كومه خبره چې تا كړې ده، كه هغه ستا په ورور كې وي، نو د هغه غيبت دې كړی دی. كه دې داسې خبره وكړه، چې په هغه كې نه وه، نو تور دې وربانديې تړلی دی. (رواه مسلم)

په هر مسلمان د بل مسلمان درې شيه حرام دي: د هغه وينه، د هغه ناموس او د هغه مال.

په چا كې چې دغه څلور خبرې وي، هغه پوخ منافق دی: چې امانت ور وسپارل شي، خيانت په كې وكړي؛ چې خوله خلاصه كړي، دروغ ووايي؛ چې ژمنه وكړي، له خبرې واوړي؛ چې بحث كوي، نو ګرېوانه ته لاس اچوي. (متفق عليه)

مؤمن پېغور وركوونكی، لعنت كوونكی، فحش غږېدونكی او ژبور نه وي. (رواه الترمذي)

د چا چې خوښېږي، چې له اور نه وژغورل شي او جنت ته داخل شي، نو په هغه لازمه ده، چې په داسې حال كې مرګ وربانديې راشي، چې په الله او د اخرت په ورځې ايمان ولري او له خلكو سره هماغه برخورد وكړي، چې دی يې د ځان لپاره خوښوي. (رواه مسلم)

له حسد نه ځان وژغورئ. حسد نېكۍ داسې خوري، لكه اور چې لرګی خوري. (رواه ابو داؤد)

الله ماته وحي كړې ده، چې تاسې عاجزي غوره كړئ، په چا زياتی مه كوئ او څوك دې د بل په مقابل كې ځان لوی نه ګڼي. (رواه مسلم)

په چا كې چې درې خبرې وي، الله په هغه باندې مرګ اسانوي او په خپل جنت كې يې داخلوي. له كمزورو سره نرمي، له مور او پلار سره مينه، له نوكرانو سره ښه رويه. (ترمذي)

له ګمانونو ډډه وكړئ. ځكه ګمان ډېر لوی دروغ دی. (مشكوة)

د انسان د دروغولۍ لپاره همدومره كافي ده، چې هره اورېدلې خبره مخكې رسوي. (متفق عليه)

د مؤمن او ايمان مثال د هغه اس غوندې دی، چې په مېږوي پورې تړلی وي. اس ګرد تاوېږي، خو بېرته خپل مېږوي ته راګرځي. (بيهقي)

درې خبرې له ايماني اخلاقو څخه دي: چې كله يوه بنده ته غوسه ورشي، نو غوسه يې په باطل كې اخته نه كړي؛ چې كله خوشاله شي، نو خوشالي يې له حق څخه ونه باسي؛ چې كله زور ومومي، نو هغه څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وانه‌خلي، چې د ده حق ورباندې نه وي. (**المعجم الصغير للطبراني ص ۳۱**)

چا چې د خدای لپاره مينه وکړه. د خدای لپاره يې نفرت وکړ. د خدای لپاره يې ورکړه وکړه او د خدای لپاره يې منع وکړه، هغه خپل ايمان بشپړ کړ. (رواه ابو داؤد، **مشكوة كتاب الايمان ص ۷**)

مسلمان، د مسلمان ورور دی. مسلمان خپل ورور نه خواروي، نه ورته دروغ وايي، نه ورباندې ظلم کوي.

تاسي کې هر يو د خپل ورور لپاره هینداره دی، که په خپل ورور کې کوم عيب وګوري، نو ورنه لرې دې يې کړي. (**ترمذي بحواله مشكوة**)

چا چې د خپل ورور له خوا د هغه په نشتوالي کې دفاع وکړه، نو په الله لازمه ده، چې د دوزخ له اوره يې ازاد کړي. (**بيهقي بحواله مشكوة**)

## څو پیښې

**۱- اموي خليفه سليمان بن عبدالملک ډېر ښکلی او د دبدې سړی و. يوه ورځ يې زرغونې جامې واغوستې او زرغونه لونګۍ يې وتړله. بيا يې هينداري ته وکتل او ويې ويل: «زه يو ځوان پادشاه يم.» په دې وخت کې يوې وينځې په خليفه کې ستړګې خښې کړې وې. سليمان ورنه وپوښتل، چې څه ته ګورې. هغې په ځواب کې دا شعرونه ورته ولوستل:**

**انت نعم المتاع لو كنت تبقى — غير ان لا بقاء للانسان**

**ليس فيما علمته فيك عيب — كان في الناس غير انک فان**

**ژباړه: ته ډېره غوره سرمايه يې، کاش بقا دې په نصيب کې وای، خو انسان لره بقا نشته. څومره چې زه خبره يم، په تا کې هېڅ داسې عيب نشته، چې په خلکو کې وي، بې له دې چې (ته هم) فاني يې.**

**په دې پيښې يوه اوونۍ نه وه تېره شوې، چې سليمان له نړۍ نه سترګې پټې کړې. دا پيښه د ۱۰ صفر ۹۹ هجري کال ده. ده شاوخوا درې کاله واکمني وکړه او ۴۵ کاله ژوند يې وکړ.**

**۲- د مصر د فرعون (Tutakhamun) مقبره په ۱۹۲۳ کې پرانيستل شوه. د مصري علومو متخصص لارډ کارنارون چې کله مقبرې ته ننوت، نو سمدستي ناروغ شو او په څو اوونيو کې ومړ. له هغه څو ورځې وروسته آرتر ميس او جارج بيندايټ مقبرې ته ورغلل، هغوی دواړه هم څو ورځې وروسته ناڅاپي مړه شول. دا پيښه چې کله په عامو خلکو کې مشهوره شوه، نو هغوی وويل، چې دا خلک د فرعون له لعنت نه هلاک شوي دي. (وروسته ډاکټر جارج ډين په مقبرې کې درې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

میاشتې کار وکړ. هغه له ځېرنو وروسته وویل، چې له زرګونو کلونو راهیسې ابابیلو دې مقبره کې خپلې ځالې جوړې کړې وې. د هغوی د ډېرو له بدبوی نه ټوله مقبره ډکه شوې وه. پاسنې کسان په همدې سخت بدبوی کې د تنفس له امله مړه شوي دي.)

۳– کرنل ستافن برګ د هټلر د له منځه وړلو لپاره خورا بریالی طرحه جوړه کړې وه. په جولای ۱۹۴۴ کې نوموړي په بکسه کې ټایم بم ځای په ځای کړی او د هټلر د کمپ مرکزي خونې ته یې رسولی و. که په خپل وخت دا بم انفجار شوی وای، نو په برلین کې مېشت یو څو تنو الماني پوځي افسرانو به په راډیو سټېشن ولکه کړې وه او د نازي رهبر د ختمېدو اعلان به یې کړی و، او د جرمني په حکومت به یې قبضه کړې وه. خو ټایم بم هغه وخت انفجار وکړ، چې هټلر له کمپ نه دباندې وتلی و.

۴– د چین یوه پخواني وزیر اعظم چاؤ این لایي (۱۹۷۶ – ۱۸۹۸) له خپل مرګ نه څو ورځې دمخه د شمالي ویتنام له یوه کمونیست مشر سره په روغتون کې ولیدل. دوارو د کمیونیزم په ځینو فکري اړخونو بحثونه وکړل. کله چې د ویتنام مشر رخصتېده، نو چاؤ په خندا کې ورته وویل، «اوس به په دې مسئله پخپله له کارل مارکس نه د پوهېدو هڅه وکړم. ځکه په څو ورځو کې د هغه خواته ور روان یم.» نوموړی په رښتیا هم څو ورځې وروسته د شپږ جنوري په ماښام له دنیا نه تېر شو.

۵– د چنګیز خان کړوسي قوبلای خان (۱۲۹۴–۱۲۱۶) په ۱۲۸۱ کې په جاپان یرغل وکړ. ده یو ستر بحري لښکر چمتو کړ او د جاپاني ټاپوګانو د فتحې لپاره یې لېږد کړ. په دې وخت کې جاپان د اسیا یو کمزوری ملک و. د قوبلای خان په څېر د فاتح له لښکر سره د جګړې ځواک په دوی کې په هېڅ صورت نه و. البته جاپانیانو په خپل خدای (لمر) باندې پوره ایمان درلود او ځان یې د همدې خدای اولاده باله. دوی چې څنګه د خطر احساس وکړ، نو مذهبي پیشوا یې راپورته شو او خلکو ته یې وویل، چې ټول دعاګانو ته لاسونه لپه کړئ، نو دوی ټوله شپه د خپل دښمن په خلاف خدای ته فریادونه شروع کړل.

د قوبلای خان پوځ لا د جاپان په ساحل باندې ښکته شوی هم نه و، چې یو زورور بحري توپان راغی او ټول بحري لښکر د سمندر په بوږنوونکو څپو کې غرق شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلامي تعليمات: يوه فکري مطالعه

اچ اې کريېس د نوبل جايزې د ګټونکو علمي حالات مطالعه کړي دي. دی وايي، چې هغه څه چې يو ساينسپوه پرې د نوبل جايزې د ګټلو وړتيا پيدا کوي، په اصل کې د يوه لوی ساينسپوه صحبت دی. لوی ساينسپوه خپل شاګرد ته د معلوماتو زېرمه يا د وسايلو انبارونه نه ورکوي، بلکې ساينسي روحيه (Scientific Spirit) او ذهني تمايل (Attitude of Mind) په کې روزي. د همدې روحيې او تمايل په رڼا کې بيا دی خپل ساينسي بهير ته دوام ورکوي. تر دې چې يوه ورځ لوی ساينسپوه ورنه جوړ شي او د نوبل جايزې مستحق وګرځي.

همدا خبره بلا تشبيه، د اسلام په اړه هم ويل کېدی شي. هغه شرط چې په طبيعي علومو کې د استعداد لپاره پکار دی، هماغه شرط په الهي علومو کې هم د ژور معرفت د ترلاسي لپاره اړين دی. له اسلام نه چې بنده کوم څه ترلاسه کوي، هغه يوازې د قوانينو او مقرراتو يوه مجموعه نه ده، بلکې تر هغې ډېر يو ذهنيت او مزاج دی. دغه ذهنيت او مزاج

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کله په انسان کې پیدا شي، نو د بنده د ژوند په ټولو اړخونو کې ځان ښکاره کوي. او بلاخره بنده د خدای هغه ابدي جنت ته رسوي، چې د یوه انسان تر ټولو لویه کامیابي ده.

په دې تراو به دلته د اسلام د ځینو اړخونو یادونه وکړو.

## ذهني عبادت

په قرآن کریم کې ویل شوي دي، چې کله خدای لومړنی انسان پیدا کړ، نو پرښتو ته یې امر وکړ، چې هغه ته سجده وکړي. دا په اصل کې د دې خبرې څرګنداوی و، چې انسان په دې کایناتو کې د یوه برتر مخلوق په حیث پیدا کړای شوی دی. انسان ته دغه برتري، د قرآن کریم له مخې، څکه حاصله ده، چې هغه ته د اسماوو علم ورکول شوی دی. یانې بنیادم د اسماوو (نومونه) له لارې مسمّیات (څیزونو) پېژني، حال دا چې پرښتې د مسمّیاتو له لارې مسمّیات پېژني. (بقره: ۳۱) انسان له یوې ځانګړې وړتیا برخمن دی او هغه دا چې دی د تفکر له لارې هم په یوه شي پوهېدی شي، بې له دې چې هغه شی یې په حسي ډول د سترګو مخې ته پروت وي. د دې برعکس پرښتې څکه له شیانو خبرې دي، چې هغوی یې په خپلو سترګوویني. په نورو ټکو کې ویلای شو، چې انسان ته ذهني علم ورکول شوی دی او پرښتو ته مشاهداتي علم. په دې سره دا خبره روښانه کېږي، چې خدای ته له انسان نه څه مطلوب دي او له پرښتو نه څه غواړي. له انسان نه ذهني عبادت مطلوب دی او له پرښتو نه مشاهداتي عبادت. هغه خدای چې پرښتې یې په لیدو تسبیح او پاکي بیانوي، انسان به د هماغه خدای تسبیح او تقدیس له لیدو پرته ترسره کوي.

د علم د پیل ټکی دا دی، چې بنده خپل ځان د شعور هغې سطحې ته ورسوي، چې له لیدو پرته حقایق درک کړای شي. د ګڼو حیواناتو جوړښت داسې شوی دی، چې هغوی د بویولو د حس په مټ واقعات درک کولی شي، خو که همدا حیوانات د سترګو په ذریعه د شیانو په هکله په پوهېدو ټینګار وکړي، نو بیا هغوی د شیانو پوهه نه شي ترلاسه کولی. همدارنګه د انسان تخلیق هم څه داسې غونډې شوی دی، چې دی په ژورو خبرو یوازې د خپل ذهن په مټ پوهېدی شي. که انسان خپله پوهه تر لید او لمس پورې محدوده کړي، نو بیا به په ټولو مهمو خبرو باندې له پوهېدو څخه محروم پاتې وي.

ذهني عبادت یو بل اړخ هم لري.

د یوه عام سړي په پرتله د یوه مشهور رهبر ولې ډېر هرکلی کېږي، حال دا چې له ظاهري پلوه په دواړو کې هېڅ فرق نه لیدل کېږي. د دې وجه د رهبر هغه نامرئي حیثیت (امیج) دی، چې د هغه د کارونو او قربانیو له امله د هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخصیت په محور کې پنځېدلی دی. دا امیج په محسوس شکل کې نه لیدل کېږي. مازې یو ذهني شی دی. خو دغه ذهني حقیقت دومره مهم دی، چې په هر ځای کې خپل ځان درباندې مني. او هېڅ څوک یې له نظره نه شي غورځولی.

په همدې ډول د انسان یو بل امیج هم د جوړېدو په حال کې دی. او هغه اخروي امیج دی. په اوسنۍ دنیا کې د یوه شخص د لاسته راوړنو امیج د هغه د ظاهري اړخونو په اعتبار جوړېږي. خو په راتلونکې دنیا کې له حقیقي او باطني پلوه د هغه د اعمالو یو امیج د جوړېدو په حال کې دی. مثلاً یو رهبر ډېره برجسته وینا کوي یا یوه انقلابي طرحه جوړوي. د هغه د دې کار دنیوي اړخ دا دی، چې رهبر به د ورځپاڼو په لومړي مخ کې ځای مومي. له هر لوري به ویاړونه او مبارکۍ ورته راروانې وي. خو د اخروي اړخ خبره بیا فرق لري، اخروي اړخ د بنده په نیت پورې تعلق نیسي. د یوه شخص چې په نیت کې څومره اخلاص وي، په هماغه اندازه به یې د خدای په نزد حیثیت سازېږي او اخروي امیج به یې جوړېږي. د دنیوي امیج ګټه په دنیا کې ترلاسه کېږي، د اخروي امیج ګټه به له مرګ نه وروسته مخې ته راځي.

د ذهن دنیا (ایډیال دنیا) زموږ له محسوسې دنیا (مادي دنیا) نه ډېره حقیقي ده. همدا وجه ده، چې له موږ نه چې کوم عمل مطلوب دی، هغه هم په خپل وروستي صورت کې ذهني یا تصوراتي دی. موږ د خپل اصل حقیقت په اعتبار یو تصوراتي (حسیاتي) مخلوق یو، همدا ده، چې زموږ تر ټولو غوره عمل هم یوازې ذهني یا تصوراتي عمل کېدی شي.

## د خدایي او بندګي موندنه

مؤمن په اصل کې هغه دی، چې دا پېښه په خپلو سترګو وګوري، چې اسرافیل له شپېلۍ سره ولاړ دی او دې خبرې ته منتظر دی، چې د خدای امر وشي او په شپېلۍ کې وپوکي او ټول عالمونه لاندې و باندې کړي. د کافر او مؤمن فرق، د حقیقت له مخې، له دې پرته نور څه نه دی، چې کافر د دنیا په سطحه کې ژوند کوي او مؤمن د اخرت په سطحه کې. یو، په ظاهري ژوندون کې ورک وي او بل د آخرت په ژوندون کې د ځان لپاره د ژوند راز موندلی وي.

«یَعْلَمُونَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَیَاةِ الدُّنْیَا وَهُمْ عَنِ الْآخِرَةِ هُمْ غَافِلُونَ» (الروم: ۷)
ژباړه: د دنیا په ظاهري ژوندون پوهېږي، خو بیا همدوی له اخرته غافل (ناخبره) دي.

په دې کایناتو کې هغه څه چې تر ټولو ډېر څرګند دی، هغه آخرت دی. د قرآن کریم په ټکو کې اخرت په ځمکه او اسمان باندې دروند دی. هغسې چې د امیندوارې ښځې په ګېډه کې حمل په ظاهري سترګو نه لیدل کېږي، خو بیا هم په خپل ټول وجود سره د ځان خبرداری ورکوي او داسې ښکاري، چې هره شېبه به دباندې راووځي. همداسې اخرت هم په ټول کاینات کې داسې هوسېږي، چې هر وخت دا اندېښنه شته، چې ظاهري پرده څیري شي او اخرت له خپلو ټولو لوازماتو سره راڅرګند شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«ثَقُلَتْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ لاَ تَأْتِيكُمْ إِلاَّ بَغْتَةً» (اعراف: ۱۸۷) ژباړه: درونده دی په اسمانو او ځمکه کې، نه درته راځي مګر ناڅاپه.

په قرآن کريم کې چې د مؤمن کوم انځور ايستل شوی دی، هغه دا دی، چې مؤمن د اخرت دغه ظاهرا پټه پېښه په خپلو وازو سترګو ګتلې وي. د اخرت فکر په هغه دومره اغېز کړی وي، چې هر لوري ته يوازې اخرت او بس اخرت په نظر ورځي. هره واقعه ده ته د اخرت د ورپادولو سبب ګرځي او د ټول ژوند لوری يې د اخرت لوري ته ګرځېدلی وي.

په دنيا کې چې له يوه شخص نه کوم ژوند مطلوب دی، هغه په حقيقت کې دا نه دی، چې بنده دې ځينې ځانګړي عملي دودونه او رسمونه په ځای کړي، چې د دغو کارونو پايله يې بيا له مړينې وروسته په بله دنيا کې مخې ته راځي. بلکې اصل مطلوب دا دی، چې بنده د همدې دنيا دننه د اخرت په ژوند کې شپې ورځې تېرې کړې، دی همدا نن لا په هغه دنيا کې ساه واخلي، چې سبا به ورته رسېږي، بنده چې کله د «ذهني عبادت» مقام ته ورسېږي، نو هغه خپل ځان هم موندلی وي او خپل خدای هم. او اسلام ورته د خدای د خدايي او د هغې په مقابل کې د خپلې بندګۍ د موندنې هم معنا وګرځي.

خدای په خپل ټول شان سره په کايناتو کې ظهور کړی دی. د خدای بې پايه وسعتونه د هغه د عظمت حال راته بيانوي. د لمر پلوشې د هغه نور هر لوري ته خوروي. د ځمکې زرغونه او سرسبزه کره د هغه د رحمتونو کيسه راته تېروي. د ستورو شغلې وهونکی اور د هغه د بوږنوونکي عذاب ګوابنونه راته کوي. بس خو له ذرې نه تر کهکشاني نظامونو پورې هر شی د خدای د بې پايه ذات پېژندنه ده. د اسلام د موندلو مطلب دا دی، چې بنده خدای د هغه په کايناتو کې وګوري. يو بنده چې په حقيقي معنا مؤمن شي، نو د ځمکې او اسمانونو په وسعتونو کې دغه غوړېدلی عالم د هغه لپاره د خدای د جلال او جمال هينداره وګرځي. د مخلوقاتو په پرده کې نوموړی خپل خالق داسې ومومي، چې نور ټول شيان د ده لپاره د سيوري حيثيت خپل کړي او خدای د تر ټولو ډېر حقيقي وجود په حيثت د هغه د زړه او سترګو مرکز او محور وګرځي.

بلې خواته دغه موندنه بنده ته دا هم وايي، چې دی څومره حقير او کمزوری دی. دی ګوري، چې په دې کايناتو کې چې کوم وېش ترسره شوی دی، هغه د عاجزي او اختيار وېش دی، نه پخپله د اختيار. دلته ټول واک او ځواک په يوه خوا کې دی او ټوله عاجزي او بې وسي په بله خوا کې. د واک او اختيار ټول ډولونه د خدای په خوا دي، او د بې وسي او ناتوانۍ ټول شکلونه د انسان په طرف دي. دا موندنه په بنده کې د عاجزي احساس پيدا کوي. او دی له دې حقيقت نه خبروي، چې دی يو ناڅيزه وجود دی. د حديث په ټکو کې د ده له خولې چيغه ووځي: «اې خدايه! ټول انسانان وږي دي، مګر دا چې ته يې ورباندې وخورې. ټول انسانان لغړ دي، مګر دا چې ته جامې ورواغوندې، ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسانان ترې دي، مګر دا چې ته اوبه ورباندې وڅښې. ټول انسانان بې سيوري دي، مګر دا چې ته په خپل سيوري کې ځای ورکړې.»

د عاجزي دغه مقام په اصل کې د انسانيت پېژندنې مقام دی. کله چې بنده دې مقام ته ورسېږي، نو دا احساس ورسره پيدا شي، چې ګواکې په دې ستر کاينات کې دی تر اوسه پورې بې ځايه و، او اوس يې خپل ځای مونده. او دی هلته ورسېږي، چېرته چې بايد په اصل کې موجود وای.

## اخرت محوره ذهن

نبي کريم صلی الله عليه وسلم چې د ژوند کوم تصور راکړی دی، هغه د ده مبارک په ټکو کې په لنډ ډول دا دی: «**الدنيا مزرعة الآخرة.**» ژباړه: دنيا د اخرت کرونده دی.

غيراسلامي ژوند دا دی، چې بنده همدا دنيا خپله کرونده، يا په نورو ټکو کې د خپلو هڅو د حاصل د ترلاسي ځای وانګېري. د ده د کړنو لوری د اوسنی دنيا په لور وي. او د خپلې دنيوي اينديې په جوړولو کې لګيا وي. له خپلو مادي ګټو سره يې علاقه وي. د هماغو شيانو لپاره په خوځښت راشي، چې په هغه کې يې دنيوي چارې سمون مومي. هغه چې د ده شخصيت په کې ځلېږي، هغه چې د ده «انا» ته په کې تسکين حاصلېږي.

خو د دې برعکس اسلامي ژوند اخرت محوره ژوند (**Akhirat Oriented Life**) وي. د مؤمن د دلچسپيو مرکز هغه دايمي ژوند وي، چې له مرګ نه وروسته راتلونکی دی. دغسې يو بنده تل د اخروي اينديې له فکر سره ښکېل وي. د ده علاقه دا وي، چې د خدای په نزد سور مخی واوسي، نه دا چې په همدې دنيا کې د عزت ژوند جوړ کړي. د ده توجه، د ده هيلې، د ده فعاليتونه، ټول د اخرت د کور په جوړولو باندې راټول وي. لنډه دا چې غيرمؤمن په دنيا کې ژوند تېروي او مؤمن په اخرت کې. نامؤمن به له مرګ وروسته د اخرت جهان ته ځي. او مؤمن په همدې دنيا کې د اخرت عالَم ته رسېدلی وي. د طب پوهنځي محصل د خپل ژوند په ابتدايي برخه کې د ښوونې او روزنې يوه نظام ته ورننوځي او خپل ځان اماده کوي، تر څو د خپل ژوند په پاتې برخه کې د برياليي ډاکټر په حيثت د عزت ژوند وکړي. همدا راز په اوسنی دنيا کې به هم موږ خدای پرسته ژوند غوره کوو او په خپل ځان کې به هغه «انسان» ته روزنه ورکوو، چې د مرګ نه وروسته ژوند په پړاو کې د عالي ژوند جوګه ثابت شي:

«**مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً**» (**نحل: ۹۷**)

ژباړه: چا چې نېك عمل وکړ، که نارينه وي که ښځينه خو چې مؤمن وي نو حتماً به ښه ژوند وربانـدی تېر کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د دې بالعکس معامله د هغو خلکو ده، چې غلط روش يې غوره کړی وي. دغه راز شخص به په آخرت کې خپل ځان له عذاب نه پورمامور ژوند کې ويني او د وتلو هيڅ لاره به ورسره نه وي:

«وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا» (طه: ۱۲۴) ژباړه: او څوك چې زما له ذکره مخ واړوي، د هغه دپاره تنګ ژوند دی.

د اخرت همدا دواړه ژوندونه د جنت او جهنم په وييکو تعبير شوي دي. جنت او جهنم نه کوم طلسماتي ځيزونه دي او نه مازي روحاني ځيزونه. د جنت او جهنم ژوند به هم د همدې دنيا د ژوند غوندې يو ژوند وي. دواړه د هماغه ارام او کړاو ډېر بشپړ ځايونه دي، چې يوه ابتدايي ببلګه يې نن ورځ په همدې دنيا کې زموږ د سترګو په وړاندې ده. په قرآن کې د جنت خوندورې مېوې د دنيا له مېوو سره مشابه ګڼلی شوې دي (بقره: ۲۵) دغه راز د جهنم ژوند د هغه انسان له ژوند سره تشبيه شوی دی، چې د ژوند اسره يې يو باغ وي او دغه باغ يې د زړښت په وخت کې اور واخلي او تباه شي. (بقره: ٢٦٦) په اوسنی دنيا کې موږ ګورو، چې يو شخص چې د ژوند په ابتدايي مرحله کې په ځان کې د پرمختګ وړتيا او تومنه پيدا کړي، نو وروسته د ژوند په ډګر کې د هغه قيمت ترلاسه کوي. خو هغه شخص چې خپل ابتدايي وختونه يې په لوبو او ساتېريو کې ضايع کړي وي، هغه وروسته له دې تريخ واقعيت سره مخ کېږي، چې د دنيا له فرصتونو څخه د خپلې برخې د ترلاسي استعداد به په کې نه وي. همدا حال په ډېره لوړه کچه د اخرت هم دی:

«قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّاهَا. وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّاهَا» (شمس: ۱۰) ژباړه: حقيقتاً هغه څوك بريالی شو چې ځان يې سوتره کړ. او نامراد شو هغه چې ځان يې لاندې کړ.

په دنيا کې هر انسان په يو نه يو ډول د خپل ځان په جوړولو لګيا دی. ځينې خلک هغه دي، چې په حقيقي معنا کې د ايمان او صالح عمل لاره ور خپلوي. داسې خلک په ځان کې يو داسې شخصيت روزي، چې په يوه داسې ماحول کې ښه ارتقا وکړي، چېرته چې اخلاقي شعور وي، حق پرستي وي، د مسؤليت احساس وي، د ظواهرو په مقابل کې د جواهرو ارزښت وي، د سطحي خبرو په ځای د لوړو حقايقو اهميت وي، د ځانغوښتنې په ځای اصول‌پالنه د انسان د پرمختګ زينه وي. پرېکړې د عصبيت په ځای د حقيقت په بنياد وي، د لفظي جدال په ځای علمي استدلال په ځان کې وزن ولري. داسې خلک ممکن دی، چې په دنيا کې ناکام شي، په دې چې دلته انساني اقتدار ډېری وختونه فساد راولاړ کړی وي او له دې امله د دغه راز وړتياوو خلک په دې دنيا کې خپل ځای‌ځايګی نه پيدا کوي، تر دې چې د هغوی لپاره حياتي روزګار موندل هم ستونزمن شي، خو څنګه چې دا ځمکه او اسمان بدل کړای شي (ابراهيم: ۴۸) او د خدای تر مستقيم اقتدار لاندې معياري دنيا رامنځته شي، نو بيا به همدا خلک د دنيا سرداران وي. هغه صلاحيتونه چې په تېرو سختو حالاتو کې يې په ځان کې روزلي وو، هماغه به ورته په دې نوې دنيا کې د عزت او ارام په فرصتونو باندې د منګولو ټينګولو يقيني ضامن وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د دې بالعکس چا چې د خدای ښودلې لاره نه وي خپله کړې، هغه چې حال یې دا وي، چې د لوړو تقاضاوو په ځای یې په لنډمهالو انګېزو پسې منډې کړې وي. هغه چې په خپل ځان کې یې دا استعداد پیدا کړی چې د ابن الوقتي، جوړجاړي، چاپلوسي، سطحي‌توب، استحصال، عصبیت او د مفاداتو د پرستش له لارې خپل کار وباسي، هغه چې په دې فن کې یې مهارت ترلاسه کړی وي، چې خپله هره غلطي او بې هودګي په ښکلو کلمو کې پټه کړي، و دې شي چې داسې شخص په دې دنیا کې خو ښه وځلېږي، په دې چې دلته ډېرى وختونه داسې ماحول وزرې غوړولې وي، چې په هغه کې دغه راز صلاحیتونه ډېر ژر خپل قیمت ترلاسه کوي. خو کله چې د اخرت جهان ته ورسېږي، نو یو ناڅاپه به محسوس کړي، چې دلته د ده لپاره د ژوند فرصتونه له یوه سره ختم شوي دي. دلته د هغو قابلیتونو هېڅ قیمت نشته، چې ده په دنیا کې په خپل ځان کې پیدا کړي وو.

## له خپل قالب نه راوتل

په قرآن کریم کې ویل شوي دي، چې «د ځمکې او اسمان ټول مخلوقات د خدای تسبیح بیانوي، خو خلک په دې تسبیح نه پوهېږي.» (اسراء: ۴۴) د دې مطلب څه دی؟ د دې مطلب دا دی، چې د وحي له لارې چې کوم حقیقت په لفظونو کې بیان شوی دی، د هماغه حقیقت اواز په ټول کاینات کې په نامفلوظ یا ناژبني انداز کې ګویا دی. ګلونه د هماغه حقیقت خوشبویي او رنګیني خوروي. هوا هماغه پیغام سره ځان لېږدوي. ستوري د هماغه حقیقت خبریالی ته روښانه دي. اسمان د هماغه اعلان لپاره هسک دی. ونې او غرونه او سیندونه او نور ټول څیزونه د هماغه حقیقت ابدي نغمې نشروي. خو دا ټول شیان په خاموشه ژبه کې ګویا دي. دا چې انسان په خپل ځان کې دومره ډېر مشغول دی، چې خاموشه ژبه اورېدی نه شي، نو ځکه خدای د نطق (یا خبرو) په ژبه کې د خپل کلام د استولو پرېکړه وکړه.

خو قرآن کریم په حقیقت کې د ناملفوظو الهي نغمو د اورېدو لپاره ملفوظ لارښود دی. یو بنده هماغه وخت خپل خدای مومي، چې کله یې غوږونه خاموشه وحي واوري. چې کله یې سترګې په کایناتو کې خدای وګوري. چې کله په نامحسوسه دنیا کې د ځان لپاره د ژوند سامان ومومي. دا مقام انسان ته هغه وخت حاصلېږي، چې کله بنده له مادیاتو راهسک شي او د خپل ذات له قالب نه بیرون ساه واخلي.

دا د معرفت هغه سطحه ده، چې هلته د ځان په سطحه ژوند کفر او د خدای په سطحه ژوند تېرول اسلام ښکاري. کله چې بنده په خپل ځان دومره واک حاصل کړي، چې خپل ځان له خپل لاشعور څخه جدا ولیدلی شي، نو هغه وخت بنده خپل ځان مومي. له دې وروسته د ژوند یوه نوې پانه اوړي. بنده د لاشعور په سیوري کې د ژوند تېرولو په ځای د شعور په رڼا کې ژوند تېرول پیلوي. بنده له خپل ځان نه بیرون راوځي، د خپل ځان ننداره کوي. او له خپل ځان نه تېرېږي او تر خدایه رسېږي.

هر انسان چې کله نړۍ ته راځي، نو ډېر ژر یې شاوخوا ته د افکارو او جذباتو یو مصنوعي قالب ایجادېږي. له دې نیږدې فکري قالب سره انسان ورو په ورو دومره روږدی شي، چې هماغه ده ته د حقیقت په بڼه په نظر ورځي. دی خپل شخصي احساس او فکر د خارجي حقایقو په معنا اخلي. او حقیقت ته د رسېدو لپاره د یوه بنده په مخ کې تر ټولو لوی خنډ همدا دی. تر څو چې بنده د دې قالب دننه دی، بنده یوازې خپل ځان پېژني. خو د دې قالب نه له راوتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته ده ته معلومېږي، چې دلته يوه بله برتره هستي ده، چې د ده د ذات په پرتله ډېره حقيقي ده. دی د زوال په مقابل کې له کمال سره اشنا کېږي او د بې وسي په مقابل کې ځواک ته رسېږي.

له دې وروسته د انسان د فکر او رغبت ټول محور د خپل ذات په ځای د خالق ذات ګرځي. دی د ځان لمانځنې له دايرې نه د خدای لمانځنې دايرې ته لاره ومومي. دی له ځان نه راپېلېږي او خپل رب ته رسېږي. انسان چې تر څو د خپل ذات له قالب نه ونه وځي، نه خپل ځان پېژندلی شي او نه خپل خدای.

## له اروايي غوټو ازاد انسان

د خدای هغه بنده چې خدای ورنه راضي وي او خپل جنت ته به يې ننباسي، هغه ته په قرآن کريم کې مطمئن نفس (فجر: ۲۷) ويل شوي دي. له مطمئن نفس نه مراد له غوټو نه ازاده اروا (complex-free soul) ده. بنده چې په دې دنيا کې کوم برخورد ښکاره کوي، د هغه تر شا ځينې اروايي غوټې لاس لري. مثلاً چې يو څه دنيوي کاميابي يې په برخه شي، نو ځان ته لوی فکر کوي. که د دنيوي محرومي پېښه ورسره وشي، نو د کمترې احساس ورته پيدا کېږي. له چا سره يې چې زړه لګېږي، د هغه هره خبره خوږه ورباندې لګېږي. که له چا سره يې لړ ورانه شي، نو د هغه هره خبره سرچپه معلومېږي. په چا پورې يې چې اميد تړلی وي، هغه ته انسان سر ټيټ نيولی وي. له چا نه يې چې د ګټې تمه نه وي، د هغه په وړاندې د بې اعتنايي برخورد کوي. چېرته يې چې انا تسکين نه مومي، هلته د ورتګ زحمت هم په ځان نه تېروي. دا هر څه زياتره د لاشعور تر اغېز لاندې پېښېږي. د بېلابېلو عواملو په تاثير کې د بنده يو ذهن جوړ شوی وي، او بيا د همدغه ذهن تر اثر لاندې خپلې ټولې چارې په مخ وړي او د خپلو احساساتو له دايرې نه وراخوا په سوچه بڼه د فکر کولو توان نه مومي. د ده هر چلند له اغېزمن ذهن څخه راټوکېدلی چلند وي، نه په حقيقي معنا کې ازاد چلند.

ايمان راوړل ګواکې له نسبي انګېزو او مصنوعي تمايلاتو څخه د خپل ځان لوړول دي. چې کله انسان په حقيقي معنا خپل ځان خدای ته وسپاري، نو بنده له اروايي غوټو څخه په ازاد انسان بدلېږي. دی نور په سوچه فطري حالت کې شيانو ته ګوري او له خپل ځان نه د بېلتون وروسته د ځان ننداري ته درېږي.

همدا هغه مقام دی، چې په قرآن کې مطمئن نفس بلل شوی دی. دا مقام تر هغو چاته نه حاصلېږي، چې بنده له دنيوي لېوالتياوو او مادي انګېزو څخه لوړ شوی نه وي. تر دې چې هغو داعياتو ته يې هم نظر ورسېږي، چې د لاشعور تر سيوري لاندې کار کوي او په عامو حالاتو کې پخپله اړوند شخص هم له هغو څخه ناخبره وي. تر څو چې دا کار ونه شي، د خدای او بنده وصال نه شي کېدی. د خدای شان، صمديت او بې نيازي ده. خدای له هر ډول غوټو نه ماورا دی. خدای پېښې په خپله سوچه بڼه کېويني. همدا ده، چې د خدای ملګرتيا هماغه بنده ته حاصلېدی شي، چې په خپل ځان کې دغه الهي اخلاق پيدا کړي. خو هغه بنده چې د خپل لاشعور په غوټو کې نښتی وي، چې د خپل ذات له مدار څخه نه شي وتلای، هغه خدای نه شي موندلی او «د خدای په ملګرتيا کې قدم اخيستونکی» نه شي ګرځېدی.

مطمئن نفس ته د رسېدو دوهم اړخ هغه دی، چې په حديث کې په دې ټکو کې بيان شوی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«**اتقوا فراسة المؤمن فانه ينظر بنور الله.**» ژباړه: د مؤمن له بصیرت څخه ځان وژغورئ، په دې چې مؤمن د خدایي نور په مټ کتل کوي.

چې کله بنده له ارواېي غوټو ازاد شي، نو خپل فطري حالت ته رسېږي. بنده په سوچه او خالص انداز کې د قضاوت کولو وړتیا ترلاسه کوي. د مینې او کرکې، وېرې او تمې، عزت او بې عزتې، ګټې او تاوان د احساساتو تر اغېز لاندې فکر نه کوي. دی له هغو ټولو انګېزو راپورته شي، چې له انسان نه چاپېر هاله جوړوي او عقل یې په خپل ګرفت کې اخلې او نه پرېږدي چې سم نظر او رایې ته ورسېږي. داسې شخص په مسایلو کې په بشپړه توګه غیرجذباتي او واقعبینه رایه ورکولی شي. د ده لید ټول مصنوعي دېوالونه نړوي او نظر یې حقایقو ته رسېږي. دی له هغې سطحې نه واقعات مشاهده کوي، له کوم ځایه چې خدای په کامل او ابدي انداز کې د هغو مشاهده کوي. ښکاره ده، چې څوک دې مقام ته ورسېږي، د هغه رایه به ارومرو سمه وي او څوک چې د سم قضاوت او نظر وړتیا پیدا کړي، د هغه له ځواک سره څوک دغرې وهلای شي؟

## رباني خواړه

ایمان د ژوند حالت دی او کفر د مرګ حالت (انعام: ۱۲۲) هر انسان په حقیقت کې یو مړ انسان دی. بنده هغه وخت په ژوندي انسان بدلېږي، چې د هدایت رڼا یې په برخه شي. چې د خدای له لوري د رباني خوړو دړه ورته راخلاصه شي. (طه: ۱۳۱)

الله تعالی په دنیا کې د رزق دوه دسترخانونه غوړولي دي. یو مادي دسترخان دی، چې غلې، سبزی، مېوې او غوښې په کې راځي. دا حیواني خواړه دي. په دې رزق کې خپله برخه ترلاسه کول همداسې ده لکه یوه ژوي ته چې ښه څرځای ور پیدا شي یا کوم لبوه د خپلې ناشتې لپاره تازه غوښه ومومي. که چا د ځان لپاره هر ډول مادي رزق جمع کړی وي، نو دا ډېر تر ډېره د دې خبرې ثبوت دی، چې ده د ځان لپاره حیواني سطحه موندلې ده. خو د اعلی انساني سطحې درجه له دې نه وړاندې ده او هغه دا ده، چې انسان ته د خدایي خوړو رامخه شي. چې د مخلوقاتو په ځای پخپله خالق د هغه لپاره د رزق سرچینه وګرځي. څکه خو نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«**ان ربي یطعمني و یسقیني.**» ژباړه: زما رب یې په ما خوري او زما رب یې په ما څښي.

حقیقت دا دی، چې هر انسان د یو نه یو رزق په سر خپل ژوند تېروي. له رزق نه پرته په دې دنیا کې ژوند ناشونی دی. د ایمان او کفر تعریف، د خپل حقیقت په اعتبار دا دی، چې د کفر حالت دا دی، چې بنده په اوسنۍ دنیا کې په مادي رزق ژوند تېر کړي. او د اسلام حالت دا دی، چې بنده خپل ځان دومره لوړ کړي، چې پخپله د کایناتو له خالق نه ورته د رزق لاره وازه شي او د الهي فیض په ابدي دنیا کې د خپل ځان لپاره د ژوند متاع ترلاسه کړي.

## خارجي مسؤلیت

د نورو بندګانو په برخه کې چې له یوه مؤمن نه څه مطلوب دي، هغه نُصح (خیرخواهي) ده. په دنیوي چارو کې دغه خیراخواهي د قِسط (انصاف) په ډول عملي بڼه اخلي. او په اخروي هغه کې د حق د شهادت په څېره کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قِسط دا دی، چې مونږ د خپل ورور لپاره هماغه څه وغواړو، چې مونږ يې د ځان لپاره خوښوو. مونږ چې کله د بل په هکله غږېږو يا له بل سره کومه معامله کوو، نو زمونږ چلند د ضد، عصبيت، انانيت يا انتقامي ذهنيت له مخې نه وي، بلکې بې پرې او د انصاف سره سمون ولري. په قرآن کريم کې ويل شوي دي: د کومې ډلې دښمني مو دومره ونه پاروي چې بيا عدالت ونه کړئ، عدل کوئ، دا تقوی ته ډېر نيږدې دی. (مائده: ۸) دا هغه بهترين زرکانی دی، چې دا پرې معلوموی شو، چې يو بنده په قسط ولاړ دی يا نه دی. کله چې څوک په تاسې تنقيد وکړي، چې کله مو له چاسره اختلاف راشي، چې کله د کوم چا له لوري تکليف ووينئ، هماغه شېبه په اصل کې د دې خبرې د ارزولو ده، چې تاسو د قسط په مقام کې ولاړ ياستئ يا د ظلم په مقام کې. خو انسان زياتره وختونه ټيک په همدې مقام کې ماتې خوري، چېرته چې بايد تر ټولو ډېر د کاميابي ثبوت ورکړي.

د خيرخواهي بل اړخ دا دی، چې تاسو خلکو ته د حق پيغام ورسوئ.

رسول الله صلی الله عليه وسلم د **داعي الی الله** حيثيت درلود. مسلمان امت هم د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په متابعت کې د مسؤليت په همدې مقام باندې درول شوی دی. (يوسف: ۱۰۸) په دنيا کې د رسول او د هغه د پيروانو اړيکه له نورو انسانانو سره د داعي او مدعو اړيکه ده. په اخرت کې به دا اړيکه د شاهد او مشهود په بڼه ظاهرېږي، هغه وخت چې رسول او پيروان به د خدای په عدالت کې ولاړ وي او د خلکو په هکله به شاهدي ورکوي، چې هغوی د دعوت الی الله په مقابل کې څه ډول غبرگون ښودلی وو. د الله دغه گواهان به په اخرت کې په تر ټولو لوړ مقام کې ودرول شي. هغوی به له دې هسک ځايه ټول قومونه ويني او د هغوی په هکله به خپلې څرگندونې کوي. ځکه خو په قرآن کريم کې دې خلکو ته د هسکو خاوندان (اصحاب اعراف) ويل شوي دي. ابن جرير او ابن المنذر د جابر بن عبدالله په روايت ويلي دي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د قيامت په ورځ به زه او زما امت په هسکو غونډيو ولاړ وي او له پاسه به خلکو ته راگوري.» دا چې په نبي کريم ص د نبوت لړی ختمېدونکې وه، همدا ده، چې نبي کريم ص په خپل امت باندې شاهد گرځول شوی دی. له نبي کريم ص وروسته د هغه امت ته دا مسؤليت ور له غاړې شوی دی، چې هغوی به د قيامت تر ورځې پورې په ټولو انسانانو باندې شاهدان گرځي. (حج: پای برخه)

په نبي کريم صلی الله عليه وسلم باندې د دې مسؤليت احساس دومره دومره دروند و، چې هر وخت به ورته د غم او خفگان په حالت کې و. داسې ښکارېدله، چې په دې غم کې به خپل ځان هلاک کړي:

«**لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ أَلاَّ يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ**» (**شعراء: ۳**) ژباړه: ښايي ته (په دې) خپل ځان تباه کوونکی يې چې هغوی نه مؤمنان کيږي.

د مکې په وروستي دور کې چې کله حالات خورا ډېر کړکېچن شوي وو، يوه خوا د مخالفينو غوسه دومره تونده شوې وه، چې يو ځلې ابو بکر صديق په خانه کعبه کې په لمانځه ولاړ و، مخالفين له څلورو خواوو پرې راټول شوو او د وهلو بنا يې ورباندې وکړه. يوه کس چې دا پېښه ليدله، نو ويې پوښتل، چې دا څوک دی؟ د وهونکو له ډلې يوه په غوسه کې وويل: **مجنون بن ابي قحافه** (د ابوقحافه لېونی دی.) يوه خوا دا حال و، بل لوري ته د مسلمانانو اقتصاد په بشپړه توگه له منځه وړل شوی و. د ژوند ټولې لارې ورباندې تړل شوې وې. خو په دې سربېره د هغوی لپاره له صبر او برداشت پرته بله هېڅ اجازه نه وه. په دې زمانه کې هغه آيت نازل شو، چې په هود سوره کې راغلی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلاَ تَطْغَوْاْ إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ. وَلاَ تَرْكَنُواْ إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ» (هود: ۱۱۳)

ژباړه: نو ته او تاسره چې چا توبه ایستلې په هماغه لاره ټینګ اوسئ څنګه چې درته امر شوی او له بریده مه اوړئ، بې شکه هغه ستاسو په کړو وړو لیدونکی دی. او هغو خلکو ته (یو بخری هم) مه ورکږېږئ چې ظلم یې کړی، بیا به اور در ورسي.

په دې حالاتو کې دا حکم څومره سخت و، د دې اندازه له دې کېدی شئ، چې نبي کریم ص وفرمایل: «**شیبتنی هود و اخواتها**.» ژباړه: هود او هغه ته نیږدې سورتونو زه زوړ کړم.

د الله تعالی وعده ده، چې هغه به د اسلام منونکو ته د اسلام په مخالفینو غلبه ورکوي. دا ژمنه چې په قرآن کریم کې بیا بیا ځلې تکرار شوې ده، د همدې شهادت یا د حق د پیغام رسونې یو بل اړخ دی. په دنیا کې په نامسلمانانو باندې د مسلمانانو غلبه له آره په آخرت کې د دې پېښې دنیوي تمثیل دی، چې مسلمانان اصحاب اعراف او د هسکو خاوندان دي. هرکله چې د خدای پرستو انسانانو یوه ډله د خپل دعوتي عمل له لارې په آخرت کې د شاهد کېدو مستحق وګرځي، نو هغه د خدای د سنت له مخې د «برتري» درجه مومي. په نورو قومونو باندې د دې ډلې دغه برتري به په اخرت کې په یقیني معناوو کې ښکاره شي. او چې کله د خدای خوښه وي، نو په دې دنیا کې هم د هغوی لپاره د برتري پرېکړه کوي. (بقره: ۲۱۲)

له دې معلومه شوه، چې د اسلام د غلبې لاره د اسلامي دعوت په مسیر تېرېږي. له دعوتي عمل پرته مازې د سیاسي هلو ځلو له لارې د اسلام د غلبې هڅه یوه داسې طرحه ده، چې د خدای په دې دنیا کې هېڅ کله د کامیابي مخ نه شي لیدی.

## اسلام او سیاست

سیاست د اسلامي غورځنګ اصلي هدف نه دی، بلکې د اسلامي غورځنګ یو پړاو دی، چې کله یې نوبت راځي او کله یې هېڅ نوبت نه راځي. د اسلام لوری «انسان» ته مخامخ دی، نه سیاسي نظام ته. د اسلام هدف د «زړه» بدلول دي، نه د نظام بدلول. د اسلام علمبردار د اخروي نجات له پیغام سره راپورته کېږي، نه د اقتصادي او سیاسي نجات له پیغام سره. دا ویل چې «د اسلام مقصد له فرد نه تر ټولنې پورې د ټولو اصلاح ده.» همداسې یوه بې معنا جمله ده، لکه یو باغوان چې ووايي، «زما مقصد له تخم نه تر پاڼو پورې بشپړې ونې ته وجود ببنل دی.» دغه ډول یوه جمله د باغواني «بشپړه تشریح» نه ده، بلکې د باغباني نیمګړې تشریح ده. په دې چې باغ په اصل کې د تخم د کرلو بل نوم دی، نه له تخم نه تر پاڼو پورې د «بشپړ» جدوجهد نوم. دغه ډول بشپړې طرحې د تیرو او کاڼو د ودانیو لپاره وي، نه د ژوندیو انسانانو د جوړولو لپاره.

هغه څه چې یو مؤمن بنده نارامه کوي، هغه دا احساس دی، چې یوه ورځ به دی مري او له مرګ نه وروسته د خدای مخې ته درېدل وریبښ دي. دا احساس په خپل ذات کې یو شخصي احساس دی. د شخصي انقلاب برنامه ده. خو دا چې د ژوند فعالیتونه یا ټولې بشري اړیکې د اشخاصو د کړنو بل نوم دی، نو کله چې په یوه ټولنه کې د اشخاصو یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کافي شمېر د اخرت په پام کې نيولو سره ژوند تېرولو ته مخه کړي، نو وخت نا وخت د هغوی له نورو انسانانو سره مخامختيا پېښېږي. دغه مخامختيا کله تر اعتقادي بحثونو پورې محدوده وي، لکه د حضرت ابراهيم عليه السلام په مثال کې چې پېښ شوي دي. کله د وخت د واکمن او داعي په منځ کې جزوي غونډې مصالحت رامنځته کېږي، لکه د حضرت يوسف له مثال نه چې ښکاري او کله د مدعو سرټمبګي د دې سبب ګرځي، چې د داعي او مدعو ترمنځ د سياسي کشمکش حالت پيدا شي، لکه د وروستي پيغمبر ص په مثال کې چې ترسترګو کېږي. خو داسې هېڅ کله نه کېږي، چې داعي دې سياسي انقلاب يا حکومتي بدلون د خپل دعوت اصلي نښانه وګرځوي. د سياست او حکومت انقلاب د يوې احتمالي پايلې په توګه د اسلامي تحريک يوه برخه ګرځېدی شي، خو د تحريک ابتدايي او بنيادي برنامه هېڅ کله نه وي.

يو باغوان هېڅکله داسې نه کوي، چې په دې اعلان سره له هوا او وربځو سره اخ و ډب پيل کړي، چې «زما مقصد بشپړې ونې ته وجود ورکول دي.» باغوان ځمکه سموي او د تخم ريښو ته د استحکام ورکولو لپاره خپلې ټولې هلې ځلې په کار اچوي. په همدې ډول که د اسلام داعي داسې وکړي، چې د «بشپړ» انقلاب نعره لوړه کړي او د وخت له واکمنو سره جګړې شروع کړي، په دې چې «د ژوندانه د چارو واګې د واکمنې طبقې په لاس کې دي» نو دا به يوه احمقانه کړنه وي. د اسلام له ليدلوري «د چارو واګې» د دنياطلبۍ او نفس پرستۍ په لاس کې وي، نه د کومې سياسي ادارې په لاس کې. د اسلام کاميابي دا ده، چې خلک له دنياپالنې لاس واخلي او اخرتپاله وګرځي او د نفس پرستۍ په ځای خدای پرستي خپل دين وګرځوي. همدا د اسلام سياست هم دی او نه سياست هم. که دا پايله حاصله شي، نو داسې وبوله، چې هر څه حاصل شول. که دا شی حاصل نه شي، نو د «بشپړ انقلاب» له برنامې سره د سياست له غره سره سر وهل همدومره بې معنا دی، څومره چې د «بشپړې ونې» د طرحې لپاره په هوا او وربځو کې اخ و ډب جوړول.

## د بعثت هدف

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د بعثت مقصد ټيک هماغه و، چې د نورو پيغمبرانو وو. ټولو ته يو دين ورکول شوی و. په هغوی کې د يوه مقصد هم نه له نورو سره فرق درلوده او نه داسې شوي دي، چې يوه پيغمبر ته دې نيمګړی دين ورکول شوی وي او بل ته دې بشپړ دين راغلی وي. البته د هغوی ترمنځ ځينې فرعي توپيرونه خامخا وو. د اصلي ماموريت په خوا کې هر يوه ته يوه ځانګړې دنده هم سپارل شوې او د هماغې دندې په لحاظ اړين وسايل او اسباب هم ورکول شوي دي. حضرت ابراهيم عليه السلام د توحيد او اخرت په اعلان سربېره په دې هم مامور و، چې د عربستان صحرا ته ځان ورسوي او د خدای لومړنی کور اباد کړي. حضرت موسی ته دا کار ور له غاړې شوی و، چې د خپلې اصلي فريضې (د حق د اعلان) په خوا کې بني اسرائيل له مصر نه وباسي. حضرت مسيح د خپل پيغمبرانه مسؤليت په خوا کې د وروستي پيغمبر د زېرې ورکوونکي په حيث استول شوی و، او داسې نور.

د اسلام د پيغمبر معامله هم کټ مټ همداسې ده. له نبي کريم ص نه چې الله تعالی ته کوم څه مطلوب و، هغه خو دا و، چې د ټولې دنيا لپاره د منذِر او مبشر دنده ترسره کړي. خو په خوا کې يې د رسول الله له لارې د الله تعالی طرحه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هم وه، چې د ځانګړې غیبي مرستې په مټ د ځمکې په مخ د مسلمانانو حکومت هم ټینګ کړي تر څو د وروستي کتاب د خوندیتوب چاره وشي.

د اسلام کوم تاریخ چې جوړ شوی دی، هغه سره له دې چې د پیغمبرانه ماموریت یوه جزوي برخه و، خو کومه تصادفي پیښه نه وه. بلکې په خپل ذات کې هم دا پېښه مطلوب وه. خو دا مطلوبیت د وسیلې په اعتبار و، نه د هدف په اعتبار. الله تعالی غوښتل، چې خپل وروستی کتاب خوندي کړي. د دې لپاره اړینه وه، چې له قرآن کریم سره اقتدار هم یو ځای کړي. که د تېرو کتابونو په څېر له قرآن کریم سره اقتدار نه وای یو ځای کړای شوی، نو د زرګونو کلونو پیغمبرانه تاریخ په ډاګه کړې وه، چې د دې کتاب انجام به هم بلاخره هماغه وي، چې تېرو اسماني کتابونو ته ورپېښ شو. د همدې مصلحت له مخې الله تعالی ځانګړې پرېکړه وکړه چې له خپل وروستي شریعت سره به ارومرو اقتدار هم یو ځای کوي. (**الدین والسلطان توأمان**) حتی که دغه یوځایوالی د شرک او کفر په علمبردارانو هر څومره ګران تمامېږي. (صف: ۹)

په عربي ټاپووزمه کې چې کله د اسلام غلبه ټینګه شوه، نو په ۱۰هـ کې دا آیت رانازل شو:

«**الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي**» ژباړه: نن مې ستاسو دین درته پوره کړی، خپل نعمت مې درباندې تمام کړی.
(**مائده: ۳**)

دلته د دین پوره کول او د نعمت تمامول په اصل کې د اسلامي قانون د مادو د بشپړولو په معنا نه دی. بلکې له وروستي شریعت سره د اقتدار یو ځای کول ورنه مراد دي، همدا وجه ده، چې په آیت کې د همدې خبرې په خوا کې ویل شوي دي، چې اوس د عربو له اېل کولو وروسته کافران له دې مایوسه شول، چې هغوی دې ستاسې دین مغلوب کړای شي (**الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ**)[1] دا خبره په هغو ځایونو کې لا زیاته روښانېږي، چېرته اسلامي غلبه د رڼا په تمامولو (صف: ۸) تعبیر شوې ده، او د الهي کلام د تمامولو تفسیر دا راوړل شوی دی، چې اوس به څوک دا کلام بدل نه شي کړای (انعام: ۱۱۵) الله تعالی د قرآن کریم له نزول وروسته د دې کتاب په ملاتړ کې د وخت د تر ټولو لوی سلطنت بنیاد کېښود. دې سلطنت د خپل حفاظت په سیوري کې قرآن کریم له یوه نسل نه بل نسل ته انتقال کړ. تر دې چې صنعتي انقلاب پېښ شو او د پریس زمانه راغله او نور له سره د دې امکان ختم شو، چې کوم شخص یا ډله دې په قرآن کریم کې لاسوهنه وکړي یا دې یې له منځه یوسي.

د اسلام د مطالعې په وخت کې د عقیدې او تاریخ په فرق پوهېدل او دواړه له یو بله بېل لیدل خورا ډېر اړین دی. که داسې ونه کړو، نو موږ به د قتال او سیاست په سنګرونو کې لمبې بلې کړې وي او فکر به کوو چې ګواکې د پیغمبرانه

---

[1] (**يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ**) ستاسې د دین له باطلولو څخه مایوسه شول او یا له دې خبرې ناهیلي شول، چې هغوی به ستاسې په دین غالبه شي، په دې چې الله تعالی په ټولو ادیانو باندې د غلبې ژمنه پوره کړه. (**فَلاَ تَخْشَوْهُمْ**) نو د دین له غالبه کېدو وروسته او د کفارو د وېرې له ختمېدو وروسته او له غالب حالت څخه مغلوب کېدو وروسته. (**الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ**) داسې چې په تاسې به د هغوی وېره خوره وه خو ما تاسې پر هغوی غالبه کړئ. او دا همداسې قول دی، لکه پاچاهان چې وایي، **اليوم كمل لنا الملك** یانې له چانه چې موږ وېرېدو، له هغو نه په حفاظت کې شوو. (**وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي**) د مکې په فتحې سره او مکې ته په سوله ییز او غالب حالت کې په ننوتو سره؛ او جاهلیت او د جاهلیت د زمانې دود او دستور مو ختم کړل. (تفسیر نفسي، جلد اول، صفحه ۲۷۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماموريت د احياء کار مو روان کړی دی، خو په اصل کې به مو د دين په غاړه چاړه ور ايښې وي. په دې چې د خدای وروستی پيغمبر، د نورو ټولو پيغمبرانو په څېر خلکو ته د اخرت د ورځې د خبرداري ورکولو لپاره استول شوی و، نه له خلکو سره د سياسي جګړې لپاره. بله دا چې دغه راز سياسي جهاد، تر اصلي مقصد (اسلامي غلبې) پورې د رسېدو لپاره هم په قطعي ډول بې ګټې دی. په دې چې د اسلام غلبه په خدايي نصرت حاصلېږي (ومَاالنصرُ الَّا مِن عَندِالله) او مونږ چې د خدای ټاکلې نبغه لاره پرې ايښې ده، نو دمخه مو لا د خدايي نصرت حق له لاسه ورکړی دی. همدا نه، حتی دا هم ممکنه ده، چې زمونږ دغه سياسي جهاد په دنيا او اخرت کې زمونږ د رسوايي سبب شي. ځکه له الهي دين څخه د اخروي مسئلې د جوړولو په ځای د سياست مسئله جوړول، پخپله د دين سرچپه شهادت دی. دا خو د راتلونکې دنيا مسئله د اوسنۍ دنيا د مسئلې په حيث د وړاندې کولو معنا لري. ښکاره ده چې دغه راز سرچپه شهادت انسان د سزا مستحق ګرځوي نه د انعام.

***

مولانا عبدالماجد دريابادي (۱۹۷۷- ۱۸۹۲) د مولانا محمد علي (۱۹۳۱- ۱۸۷۸) په اړه فرمايي: «زما د ملګري مولانا محمد علي جوهر شخصيت هم زما لپاره د لارې مشال وګرځېده. مولانا به په ډېرې بېتابۍ، په ډېر درد او په ډېر جوش او جذبه سره چيغه کړه «عبدالماجده! پورته شه، چې دواړه په ملحدې اروپا کې د اسلام تبليغ ته ور ووځو.»

ډاکټر محمد اقبال (۱۹۳۸- ۱۸۷۷) په وروستي عمر کې د يوه کتاب ليکلو اراده کړې وه او نوم يې دا ورته په نظر کې نيولی و:

**AN INTRODUCTION TO THE STUDY OF QURAN**

**(د قرآن لوستنې پېژندنه)**

اقبال به فرمايل، «که يو ځل مې کتاب پيل کړ، نو ان شاءالله د اسلام په هکله به د اروپا ټول نظريات دړې وړې کړم.»

دغه راز جذباتي مثالونه زمونږ په وطنونو کې ډېر زيات موندلی شئ. خو عجيبه خبره ده، چې په دې ټوله موده کې هېڅ داسې د يادونې وړ سړی نه پيدا کېږي، چې د لويديځ د انسان مخې ته يې د هغه په ژبه کې د اسلام د پيغام رسولو هڅه کړې وي. که کړې ده، نو فقط بدنامه قاديانيانو دا کار کړی دی.

> د پرمختيايي هېوادونو تر ټولو لويه سرمايه بشري ځواک دی. خو له دې هېوادونو څخه په يوه کې هم د دې ځواک سم استعمال نه ترسترګو کېږي.
>
> (Nicolas Jequier)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلام: د تورې پای، د دعوت پیل

مړ سیند د اردن او اسرائیل ترمنځ غځېدلی پروت دی. د دې سیند بل نوم لوط سیند دی. څلورزره کاله پخوا دا علاقه خورا زرغونه او سرسبزه علاقه وه. څلور ستر پرتیمن ښارونه د دې سیند په غاړو اباد وو. کله چې د دې سیمې خلکو په بدیو لاس پورې کړ، نو الله تعالی لوط بن حاران بن آزر د خپل پیغمبر په حیث ورته راواستوه. خو د هغو سرکښي نوره هم زیاته شوه. بلاخره چې کله د خدای پیغمبر حجت ورباندې تمام کړ، نو په ۲۰۶۱ ق م کې یوه بوږنوونکې زلزله راغله، چې د دې خلکو کلي یې په بله واړول. د سمندر اوبه پرې راپورته شوې او ټوله سیمه داسې برباده شوه، چې اوس دې ځای کې مرغان او ماهیان هم وزر نه وهي.

همدا معامله د ټولو پیغمبرانو له منکرینو او مخالفینو سره پېښه شوې ده. د حجت له تمامېدو وروسته یو قوم په اوسنۍ دنیا کې د استوګنې حق له لاسه ورکوي. د همدې لپاره د پرښتو یا پخپله د مؤمنانو د ډلې په لاس له دې دنیا څخه د هغوی ټغر ټولېږي. د وروستي پیغمبر مخالفین هم، له خپل پیغمبر څخه له انکار کولو او له خپل وطن څخه د پیغمبر له

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخراجولو وروسته، د همدې خدايي سزا مستحق ګرځېدلي وو. (اسراء: ۷۷) همدا ده، چې هغوی ته هم همدا سزا ورکول شوه. البته د دې سزا بڼه په بل راز وه. دا چې د نورو پیغمبرانو د ملګرو شمېر کم و، نو د هغوی د مخالفینو د تباهي لپاره زلزلې او طوفانونه راغلل (عنکبوت: ۴۰) خو د وروستي پیغمبر صلی الله علیه وسلم ملاتړي یوه معقول شمېر ته رسېدلي وو. نو الله تعالی پخپله د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ملګرو توره د پیغمبر علیه السلام د مخالفینو د هلاکت لپاره وکاروله. (**قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ**) د بدر قتل‌ګاه، د خپل نوعیت له مخې کټ مټ هماغسې ځای و لکه د عاد او ثمود برباد استوګنځایونه.

د دې معنا دا ده، چې توره، د اسلام د پیغمبر د ماموریت یوه فرعي برخه وه، نه حقیقي برخه. دغه توره د شکل له مخې د دفاعي جنګ او په حقیقت کې د خدايي سزا په ډول له تېکه ایستل شوې وه، هغسې چې په تېرو قومونو راغلی عذاب به د شکل له مخې زلزله یا طوفان و او په حقیقي معنا کې به په منکر قوم باندې د خدای سزا وه. خو په وروسته پېر کې چې د اسلام په تاریخ کوم کتابونه ولیکل شوو، په هغو کې د عام رواج له مخې د «تورې» پېښنو زیات تبارز وموندە. خلکو ته نور د اسلام تاریخ د تورې تاریخ ښکاره شو. حتی پخپله د مسلمانانو په سترګو کې هم د تورې په مټ کارنامې ښودل په تر ټولو ستر جهاد بدل شو.

په وروسته دور کې چې اسلام ته کومې تراژیدۍ ورپېښنې شوې، په هغو کې دا تراژیدي د کتار په سر کې راځي، چې د رحمت دین، د تورې دین وګرځېده. اسلام چې د کومو موخو لپاره راغلی و، له هغو څخه یو مقصد دا هم و، چې د انسانانو ترمنځ جنګ او جګړې ختمې کړي او د پوهاوي، سولې او جوړجاړي طریقې عامې کړي (ص: ۲۹) د زور د منطق په ځای د عقل او فکر منطق ته لوړ مقام ورکړي. حقیقت دا دی، چې اسلام، د تورې د دور پای او د دعوت د دور پیل و. په قرآن کریم کې دا حکم چې د قرآن په ذریعه ستر جهاد وکړئ (فرقان) د همدې خبرې اعلان و، چې د پیغمبر علیه السلام له بعثت څخه په بشري تاریخ کې یو نوی دور شروع کېږي او «توره او زغره» به خپل ځای مفکورو ته پرېږدي او فتوحات به د فکري ځواک په مټ ترسره کېږي.

د دې اصول تر ټولو بریالی عملي بېلګه پخپله د اسلام پیغمبر د حدیبیې په تړون کې وښودله. نبي کریم ص له جګړې نه د ځان ساتلو لپاره په ظاهر کې یوه مغلوبه سوله وکړه. پیغمبر علیه السلام د جګړې ډګر پرېښوده او بېرته د دعوت ډګر ته ستون شو. دا سوله چې ظاهرلیدونکو ته «له ذلت نه د ډکې ماتې» په معنا وه، خدای ښکاره فتحه (فتح: ۱) اعلان کړه او د دې ټکو صداقت یوازې په دوو کلونو کې ثابت شو. د سولې په وخت کې د مسلمانانو شمېر ډېر په مشکل سره یو نیم زر تنه و. خو له سولې وروسته د دعوت او تبلیغ په پایله کې د هغوی شمېر لس زره تنو ته ورسېده او اسلام دومره ځواکمن شوی و، چې مکه له کوم جنګ پرته فتحه شوه.

په وروسته زمانه کې چې په مسلمانانو کې دا ذهنیت پیدا شو، چې هغوی له سیاسي اقتدار سره نښتل او د تورې کمالونه ښودل د جهاد په معنا واخیسته، نو د هغې یوه بله وجه هم وه. او دا وجه هماغه فتنه وه، چې اکثریت تېر امتونه په کې مبتلا شوي دي.

سلیمان بن داؤد (۹۳۷- ۹۷۷ ق م) د یهودو ډېر معتبر او عظیم پیغبمر و. د هغه حکومت په شام او فلسطین سربېره په ختیځ کې د فرات تر ساحله او په لویدیځ کې د مصر تر سرحدونو غځېدلی و. د قرآن له مخې معلومېږي، چې حضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلیمان علیه السلام ته ځینې غیرمعمولي معجزې ورکول شوې وې. د هغه لپاره هوا اېل وه، د حیواناتو په ژبو پوهېدی شوی (نمل) د معدنیاتو په برخه کې ځانګړی قدرت ورکول شوی و، پیریان هغه ته تابع کړای شوي وو (ص، سباء) له همدغو پېریانو څخه یوه پېري د سبا د ملکې تخت د سترګو په رپ کې له یمن نه فلسطین ته راانتقال کړی و. (نمل)

د حضرت سلیمان علیه السلام له مړینې وروسته، د هغه دغه ځانګړنې د یهودو لپاره فتنه وګرځېدې. د خپل «ملي مشر» په تقلید کې هغوی هڅې پیل کړې، چې هغوی هم په ځان کې دغه راز کمالونه پیدا کړي. هغوی له خپله ځانه ځینې کراماتي فنون ایجاد کړل او هغه یې حضرت سلیمان علیه السلام ته منسوب کړل. (بقره: ۱۰۲) سحر و جادو او نور راز راز سفلي عملیات، ټول د خیالي «سلیماني ګوتمی» د ځایناستي په توګه اختراع شول. په جادویي کارونو کې هغوی دومره شهرت ترلاسه کړ، چې په ۳۸ ق م کې چې کله ایراني پاچا بخت نصر هغوی له خپل هېواد نه خواره واره کړل، نو له فلسطین نه بهر هم په توهمپاله خلکو کې په هغوی باندې د پیروانو ګڼه ګونه وه. دوی بابل (لرغوني عراق) ته د خوارۍ او مزدورۍ لپاره وړل شوي وو. خو د جیوش انسائیکلوپیډیا له مخې، د بابل مذهبي درناوی د هرې سیمې په یهودو کې موجود و.» (شپږم ټوک، ۴۱۳ مخ) د سایسني تعلیم له برکته، په اوسنۍ زمانه کې په یهودو کې د دغه راز کوډو او عملونو رواج ختم شوی دی. خو دغه فن تر اوسه پورې هم بې سرپرسته نه دی او اوسمهال د آخري پیغمبر ص امت همدا فن د «اسلامي» فن په حیث په ډېر بهتر شکل سره د خپلې سپېڅلې سرپرستۍ لاندې ور خپل کړی دی.

همدا کیسه، په راز راز ډولونو، د نورو انبیاوو له امتونو سره هم پېښه شوې. هر پیغمبر ته د هغه د حالاتو او زماني سره سم کوم ځانګړی شی ورکول کېږي. خو کله چې د پیغمبر د امت په وروستیو نسلونو کې دیني شعور کمزوری شي، نو همدا شی ورته په فتنه بدل شي. دا فتنه همېش د هغې خاصې ځانګړنې له نسبته وي، چې یوه پیغمبر ته ورکول شوې وي.

اخري پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته خارق العاده معجزې نه دي ورکول شوې. بلکې د پیغمبر علیه السلام لپاره الله تعالی ځانګړې پرېکړه وکړه، چې د معلوم تاریخ له مخې، له بل هېڅ پیغمبر سره نه وه شوې. د نورو پیغمبرانو د مخالفینو د مغلوبیت لپاره یا د هغوی د هلاکولو لپاره خدایي افتونه نازل شوو، لکه د نوح، لوط او هود علیهم السلام له مخالفینو سره چې وشول. خو د اسلام د پیغمبر لپاره د الله پرېکړه دا وګرځېده، چې د پیغمبر ملګرو ته د تورې پورته کولو اجازه ورکړل شي او د هغوی په تورو سره مخالفین مغلوب کړای شي. (توبه: ۱۴) او په دې ډول د پیغمبر او ملګرو له غلبې سره یو ځواکمن اسلامي سلطنت ټینګ شي. د دې کار یوه وجه دا وه، چې د اخري پیغمبر له لارې ټاکل شوې وه، چې الهي دین ته د تاریخ حیثیت ورکول شي، د تېرو زرګونو انبیاوو له راتلو سره سره دین لاهم یوه مذهبي افسانه پاتې و. د انبیاوو د سلسلې د درولو لازمي غوښتنه دا وه، چې الهي کتاب د تل لپاره خوندي کړای شي. که اخري پیغمبر ته (د دین د غلبې) دغه خصوصیت نه وی ورکول شوی نو د دې ټولو ګټو ترلاسی ناممکن و.

د اسلام له پیروانو سره په فتنې کې د اخته کېدو لپاره د حضرت سلیمان غوندې معجزات او کرامات نه وو. د ظاهرلیدونکو لپاره د نبي کریم ص امتیازي ځانګړنه فتوحات او سیاسي انقلابونه وو. په وروسته زمانه کې د اسلام د پیروانو لپاره همدغه شی فتنه وګرځېده. د اسلام پیریوان ونه توانېدل، چې د نبي کریم ص د ژوند سیاسي اړخ د هغه له رسالت نه بېل وکتی شئ. پایله یې دا شوه، چې هغوی دا ګمان وکړ، چې عربي پیغمبر ص د وخت له اقتدار سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړو او سیاسي معجزاتو د ښودلو لپاره رااستول شوی و. نو ځکه دوی ته هم پکار ده، چې په شمشیر زني او سیاستبازیو کې خپلې مېړانې ښکاره کړي، او دوی هم باید په همدغه ډول شیانو کې لاسونه ښکېل کړي. حال دا چې د اسلام د پیغمبر مِشن هم د قرآن کریم د واضحو څرګندونو له مخې، هماغه و، چې د نورو پیغمبرانو مِشن و. نبي کریم صلی الله علیه سلوم د دعوت الی الله او اخرت نه وېروني لپاره تشریف راوړی و. نه د تورې وهلو او سیاسي کارنامو د ترسره کولو لپاره. هغسې چې تېر انبیاء د زلزلو او توپانونو په مټ د ښارونو د تباه کولو او یا له ځمکو څخه د ښېرازی د ختمولو لپاره نه وو راغلي، حال دا چې دا ټولې پېښې د هغوی له لارې پېښې شوې. په همدې ډول اخري پیغمبر هم د تورې وهلو یا د قومونو د لاندې کولو لپاره نه دی استول دی، سره له دې چې د خدایي مصلحت له مخې دا راز پېښې هم د پیغمبر علیه السلام په ژوند کې رامنځته شوې.

د دغه ذهنیت اغېزو له اوږدې مودې نه سیرت او تاریخ لیکنې ته هم مخه کړې وه. په قرآن او حدیث کې چې د اسلام د پیغمبر کوم انځور دی، په سیرت کې هغه انځور یوه بدله بڼه خپله کړې ده. د سیرت کتابونه د نورو پیغمبرانو د ژوند د حالاتو بالعکس د فتوحاتو او غزواتو داستانونه لیدل کېږي. خبره چې د اسلام تاریخ ته ورسېږي، نو هلته دا ذهنیت نوره هم وده کوي. اسلامي تاریخ، له عملي پلوه، د اسلام له تاریخ نه ډېر د واکمنو او جنګسالارانو د لاسته راوړنو یو پېښلړ ګرځېدلی دی.

د دې پېښېدل طبیعي و. د اسلام تاریخ، په وروسته زمانه کې هغه وخت ولیکل شو، چې د مسلمانانو د تورو له شرنګا نه ټول هېوادونه کړنګېدل. د فتوحاتو او جنګونو خبرې په ټوله اسلامي معاشره کې تر ټولو لویه موضوع ګرځېدلې وه. په دغه ډول ماحول کې لیکل شوي د سیرت کتابونه که د «مغازیو» داستان وګرځي او اسلامي تاریخ د «فتوح البلدان» بڼه خپله کړي، نو په دې کې د حیرانتیا هېڅ خبره نشته. سیرت یا د اسلام تاریخ که په مکي دور کې لیکل شوی وای، نو اسلوب به یې له هغه سره بالکل بل راز وای، چې نن ورځ یې موږ د دغې موضوع اړوند کتابونو کې وینو.

په اوسنۍ زمانه کې دې ذهنیت یوه نوې او تر پخوا ډېره شدیده بڼه خپلې کړې ده. اوسنۍ زمانه د اسلامي غورځنګونو زمانه ده. خو موږ په ډېرې حیرانتیا سره ګورو، چې د اوسنۍ زمانې زیاتره اسلامي تحریکونه د وخت د اقتدار په خلاف د جنګ او جګړو په لاره کې ووژل شوو. د دې یو څه وجه د وخت د سیاسي چاپېریال په خلاف غبرګون او یو څه وجه یې پاسنی تاریخي ذهنیت و. په اوسنۍ زمانه کې، له غربي تمدن سره د ټکر له امله د اسلام او مسلمانانو لپار داسې مسایل پیدا شول، چې د دعوتي او رغنیزو هلو ځلو تقاضا یې کوله. خو مسلمانانو په ټوله نړۍ کې د شمشیري مقابلې یا سیاسي غوغاوو په لاره قدم کېښوده او په پایله کې یې بې له بربادي نه هېڅ هم په برخه نه شول.

اسلام د ټولې دنیا لپاره د خدای رحمت (انبیاء: ۱۰۷) و. او د دې لپاره راغلی و، چې د خدای بندګان د خدای تر سیوري لاندې راټول کړي. خو د خدای دغه رحمت تر اوسه پورې هم د هغه تر ټولو بندګانو پورې ونه رسېده. د دې مسؤلیت تر نورو زیات پخپله د اسلام د خاوندانو غاړې ته ورلوېږي.

د اسلام خاوندان په دې کې پاتې راغلل، چې د خدای رحمت تر ټولو انسانانو پورې ورسوي. د دې یوازنۍ وجه هماغه ده، چې په قرآن کې ورته **تفرق في الدین** (شوری: ۱۳) ویل شوي دي. الله تعالی د دین افاقي او تلپاتې برخه په قرآن کریم کې خوندي کړې وه او ویلي یې و، چې بس همدا د دین شاهراه (صراط مستقیم) ده، همدا لاره پسې درواخلئ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ځانه په کې نوې، نوې لارې مه راباسئ. (انعام: ۱۵۳) خو مسلمانانو د خدای په ښودلي دين سربېره ډېر نور شيان هم راوايستل او د هغو په «ديني» کولو باندې يې ټينګار وکړ. په دې غيرقرآني چارو باندې ټول امت يوه خوله نه شوای کېدی. ځينو خلکو په يوه شي ټينګار وکړ، ځينو په يوه بل شي. په دې ډول په دين کې نوې، نوې ډلې او فرقې راپيدا شوې. دې اختلافاتو چې خلک په خپلمنځي جګړو کې بوخت کړل، نو نورو ته د خدای د پيغام رسولو وخت و فرصت يې چېرته پيدا کولی شو.

اسلام يو ساده دين دی (**بعثت بالحنيفية السمحة**) خو ځينو خلکو په لوی لاس هڅه وکړه، چې د اسلام په ساده لارښوونو کې فني تفصيلات او خارجي تعينات اضافه کړي او په خپل ګمان سره دغه دين «بشپړ» کړي. همدا هڅه وه، چې هغه ټول فنون يې راپيدا کړل، چې د فقهې، تصوف او علمِ کلام په نومونو پېژندل کېږي. د اسلامي احکامو د فني تفصيلاتو متعين کول فقه باله شي. الهي معرفت ته خارجي لارې ګودرې لټول تصوف بلل کېږي. د اسلام عقايد عقلي پيمانو او قالبونو ته اچول علمِ کلام دی. په ظاهر کې دا  هڅې ګټورې او بې ضرره ښکاري. خو د خدايي دين معامله له عادي بشري چار سره فرق لري. په دين کې يوه زياتونه، چې هر څومره وړه هم وي، بلاخره مقدسه ګرځي. خلک چې يو ځل په هغې پورې وابسته شي، نو بيا نه يوازې پخپله بلکې د هغوی نسلونه هم دې ته نه راضي کېږي، چې له هغې لاس واخلي يا يې په دين کې نا اړين وګڼي. دا ډول هره هڅه په دين کې يوازې د يوې نوې فرقې د پيدا کېدو باعث ګرځي.

همدا وجه ده، چې په دين کې يوه طريقه اضافه کول په مطلق ډول ناروا ګرځول شوې ده. نبي کريم ص فرمايلي:

«**من احدث في امرنا هذا ما ليس منه فهو رد.**» ژباړه: څوک چې زموږ په دين کې داسې عمل اضافه کړي، چې د دين برخه نه وي، مردود دی.

د دغه راز څرګندو ممانعتونو سره سره خلک په خورا معصومه بڼه لګيا وو او په دين کې يې زياتونې کولې او بلاخره يې يو دين په «۷۲» دينونو باندې تقسيم کړ.

خو دلته يو سوال پيدا کېږي. که په اسلام کې «۷۲» ډلې پيدا شوې، نو په عيسويت کې ۳۷۲ ډلې جوړې شوې. هندويزم له دې هم په ډېرو ډلو وېشل شوی دی. خو بيا هم دې ملتونو له خپلمنځي جګړو نه ځان ساتلی دی او د رغونې او استحکام په کارونو کې لګيا دي. د عيسويت حال دا دی، چې نن ورځ په ټوله دنيا کې تر ټولو ډېر منظم تبليغي کار د همدې مذهب خلک په مخ وړي. حتی دې ډلې مذهبي تبليغ ته نوې وسعتونه او هسکې ورپېرزو کړې. هندويزم په معاصره غربي دنيا کې د زورور تبليغي مذهب په حيث خپلې جرړې پراخوي. سوامي ويويکانند (۱۹۰۲-۱۸۶۳) نه تر سوامي پربوپادا (۱۹۷۷- ۱۸۹۶) پورې د هندو مبلغينو يوه لړی ده، چې ټول ژوند يې تنها په همدې کار کې تېر کړی او د وخت په ژونديو قومونو او پرمختللو ملتونو کې په لويه کچه د خپل مذهب په خپرولو کې بريالي شوي دي. خو اسلام له عملي پلوه له پېريو راهيسې يو جامد مذهب ګرځېدلی دی. په دې موده کې که د اسلام د خورېدو ځينې پېښې شته هم، نو هغه د اسلام د خپل ځواک له برکته دي او د اسلام د نوم اخيستونکو په هغه کې هېڅ ونډه نشته. **الا ماشاءالله.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې وجه دا ده، چې په نورو مذاهبو کې خبره يوازې تر مذهبي ډلبندي پورې پاتې شوه. مګر اسلامپال له دې وړاندې تېر شول او د سياسي ډلبندۍ په شديده بدۍ باندې مبتلا شول. عادي ډلبندي چې ډېر وکړي، يوازې مذهبي اختلافات پيدا کولی شي. خو سياسي ډلبندي هغه ناوړه بلا ده، چې دوه ډلې د يو بل د وينو تږې ګرځوي. له بحث او مباحثې نه د تورې او توپک جګړه جوړوي. په سياسي ډلبندي کې دوه ډلې بې وسلې نه سره ښکېلېږي، بلکې دا د يوې بې وسلې ډلې د وخت له اقتدار سره ښکېلتيا وي. پايله يې دا وي، چې بهترين ځواکونه او استعدادونه د سياست په مقتل کې له تېغه تېر شي. د دعوت او تبليغ کار د مسلمانانو ځواک د پرديو قومونو په برخه کې استعمالوي، حال دا چې د «اسلامي سياست» شعار مسلمانان بېرته له مسلمانانو سره لاس او ګرېوان کوي. په دې لاره کې مسلمانان په دوو طبقو (بې واکه او واکمنه) باندې تقسيم شي او د يو بل د فنا کولو ته متې راونغاړي. او هېڅ د دې نوبت نه راځي، چې هغوی دې يو موټی شي او د دين د توسيع او خپراوي مؤثر کار دې وکولی شي.

د سياسي ډلبندي لومړنۍ واقعه د اسلام له وفات نه وروسته د شيعه مذهب پيدا کېدل دي. له اسلام نه دمخه په ټولو معلومو زمانو کې دا سياسي رواج راروان و، چې د پادشاه زوی به بادشاه و. په ټوله دنيا کې حکومت يو ميراثي حق ګڼل کېده. اسلام په معلوم تاريخ کې لومړی ځل دا طريقه ختمه کړه او د شورايي واکمنۍ (شوری: ۳۸) طريقه يې اعلان کړه. خو ډېری خلکو د اسلام له منلو سره سره له زماني افکارو څخه خپل ځان ازاد نه شو کړای او دا تبديلي يې ونه شوی منلی. او په دې يې ټينګار وکړ، چې د پيغمبر عليه السلام نه وروسته خلافت بايد په همدې کورنۍ کې پاتې شي. دا چې د پيغمبر عليه السلام کوم زوی نه و، نو ځکه د «اهلِ بيت» اصطلاح رامنځته شوه. تر څو له زوی پرته د نورو خپلوانو لپاره هم د خلافت حق ثابت کړای شي.

دغه تحريک چې په خپله هڅه کې بريالی نه شو، نو هغوی يوه بله شديده غلطي وکړه. هغه څه چې په ابتدا کې مازې يوه سياسي نظريه وه، هغوی راپورته شول او دغه نظريه يې په منظمه مذهبي عقيده بدله کړه. تر دې چې همدې باندې يې د نجات او خلاصون ټول دار او مدار کېښود. د تاريخ تجربه ده، چې کله يوه شي ته د مذهبي عقيدې حيثيت ورکول شي، هغه شی که هر څومره بې بنياده هم وي، بلاخره په يوه مقدس  شي بدلېږي او بيا د هغه له منځه وړل ناممکن ګرځي. همدا له شيعه عقيدې سره هم وشول. دې عقيدې د تقدس جامه واغوسته او د زرګونو خلکو په ذهنونو يې اغېز وښنده او د دې عقيدې لپاره له هر څه تېرېدل عيناً روا وګرځېدل.

د اسلام په تر دې دمه تاريخ کې چې څومره لويې، لويې حادثې پېښې شوې دي، په هغو کې په يو نه يو ډول د دې عقيدې لاس تر سترګو کېږي. دې عقيدې مسلمانان په يوه دايمي غوندې کورنۍ جګړه باندې واړول. دا واقعيت دی، چې شيعه ډلې د تاريخ په هر دور کې په اسلامي ټولنه کې منفي کردار لوبولی دی. د اسلام په پيل کې د خلافت له جګړو نه رانيولې تر اوسه پورې به په مشکل سره داسې کومه اسلامي تراژيدي پيدا شي، چې په سيده يا ناسيده توګه دې د دې عقيدې او ډلې لاس په کې نه وي.

د دې خپلمنځي اختلافاتو تر ټولو لوی نقصان دا شو، چې د مسلمانانو هغه ځواک چې د اسلام په خپراوي او توسيع کې بايد لګېدلی وای، هغه په خپلمنځي جګړو کې برباد شو. مثلاً د صفين او جمل په جګړو (۳۷- ۳۶هـ) او د حسين او يزيد په جګړه (۶۱هـ) کې شاوخوا سل زره مسلمانان له تېغه تېر شول او دوی دومره ځواکمن وو، چې د اروپا تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستيو سرحدونو پورې د اسلام د رسولو لپاره کافي وو. خو دا خورا قيمتي ډله د خپلو ورونو په تورو ووژل شوه او يو تاريخ له جوړېدو پاتې شو.

په لرغونې زمانه کې له سياست څخه د عقيدې جوړولو رواج د دې لپاره شوی و، چې د نااهلِ بيت د واکمنۍ په مقابل کې د اهلِ بيت واکمني ثابته کړي. په اوسنۍ زمانه کې همدغه بدعت په يوه نوې بڼه تکرار شو. دې ټکي زموږ د رهبرانو په سياسي جذبه کې هېڅ کموالی رانه وست چې سياست په اوسنۍ زمانه کې خپل هغه معنويت له لاسه ورکړی دی چې په پخوا زمانه کې ورته حاصل و. په وروستيو پېړيو کې د اجتماعي چارو نوعيت له يوه سره بدل شوی دی. په پخوا زمانه کې سياسي انقلاب پخپله د «انقلاب» په معنا و. خو نن ورځ که نور غيرسياسي ځواکونه د مرستې لاسونه ور نه کړي، نو سياسي انقلاب هسې يوه تشه ډوزه ده.

لومړی د نولسمې پېړۍ په پيل کې دغه فکر هغه مهال راښکاره شو چې کله د اسيا او افريقا له هېوادونو څخه د غربي استعمار د ختمولو او د اسلامي اقتدار د بېرته ټينګولو لپاره د شرعي دليل په توګه وړاندې شو. دې استعمار مسلمانانو ته د زدکړو او پرمختګ او د تبليغ او دعوت په ډګر کې هر ډول فرصتونه په لاس کې ورکول. يوه انګرېز پروفيسر ټامسن آرنلډ (۱۹۳۱- ) «د اسلام تبليغ» په نوم په دې زمانه کې يو خورا ګرانبيه کتاب وليکه. په دې کتاب کې دا ستره تاريخي لاربښوونه راغلې وه، چې بې له سياسي واک نه هم اسلام د خپل دعوتي ځواک په مټ هېوادونه او ملتونه فتح کولی شي. خو له دې ډول خبرو سره مسلمانانو هېڅ ډول دلچسپي ونه ښودله. ځکه د يوه سياسي نظام چې له سره وجود حرام وي، د هغه تر سيوري لاندې د «نيمه نيمګله مذهبي ژوند» سودا کله کېدی شي. حتی دا هم اړينه نه وه، چې زموږ سياسي برنامه دې له دنيوي اړخه کومه پايله هم راوړي. دغه سياسي برنامه بس سپېڅلی جهاد و، چې په ټولو عبادتونو کې افضل عبادت دی او په دې لاره کې خپل ځان بايلل پخپله لويه کاميابي ده، ځکه دغه لاره بنده سيده جنت ته رسوي. شاوخوا يو نيم سل کاله بې شمېره خلک له «استعمار» سره وجنګېدل، جګړې يې وکړې او هسې بې ګټې يې خپل ځانونه او مالونه په اوبو لاهو کړل.

دغه سياسي جهاد يوازې تر پرديو واکمنو پورې هم محدود نه و. د سلطان عبدالحميد ثاني (۱۹۱۸- ۱۸۴۲) او شاه فاروق (۱۹۶۵- ۱۹۲۰) په څېر حاکمان هم په دې تور ليست کې شامل وو. ځکه هغوی د غربي مستعمرانو، «ايجنټان» ګرځېدلي وو. سيد جمال الدين افغاني (۱۸۹۷- ۱۸۳۸) ته د ايران، مصر او ترکيې واکمنو زبردست فرصتونه ورکول، چې په دعوتي او تعليمي ډګر کې د اسلام ودې او رغونې ته کار وکړي. خو د هغه مجاهدانه سياست ته دغه ډول کارونه خورا سپک په نظر ورتلل. نوموړي دې فرصتونو ته شا واړوله او پخپله د همدغو حاکمانو د بې واکه کولو طرحو ته يې کار ووايه. پايله يې دا شوه، چې هر ځای يې له واکمنې طبقې سره تصادم پېښ شو. وروسته له هر هېواد څخه شړل کېده، تر دې چې بلاخره د ترکيې په زندان کې يې ساه ورکړه. همدا دردناک داستان، په اوسنۍ زمانه کې د اسلامي هېوادونو د پادشاهانو او اصلاح غوښتونکو ترمنځ پرلپسې تکرار شوی دی.

په شلمه پېړۍ کې اسلامي هېوادونه لږ تر لږه په سياسي معنا له پردي اقتدار نه ازاد شوي دي. خو د مسلمانانو خپلمنځي سياسي جګړې تر اوسه پورې نه دي ختمې شوې. بلکې دې جګړو اوس فکري بڼه اخيستې ده او د اسلامي قانون د نفاذ يا د الهي حکومت د ټينګولو عنوان يې خپل کړی دی. په هر هېواد کې چې د چيغو او غوغاوو يا مخالفانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاست فرصتونه پیدا کېږي، هلته زموږ اصلاح غوښتونکو او رهبرانو د اسلامي قانون بیرغونه اوچت کړي او له خپلو ملي حکومتونو سره یې اخ و ډب رااخیستی او ټول قوم یې په یوه ناپایه جګړه کې ښکېل کړی دی. د اندونیشیا عبدالقهار مذکر (۱۹۷۲- ۱۹۰۲) ته د هېواد پخواني ولسمشر سوئیکارنو د اصلاحي کارونو هر ډول فرصتونه ورکول، خو هغه د اسلامي قانون د پلي کولو په نوم جګړې وکړې، وکړې او په پای کې له منځه لاړ. د مصر سید قطب (۱۹٦٦- ۱۹۰٦) ته د هېواد ولسمشر جمال عبدالناصر د اسلامي تعلیم او پرمختګ د کارونو لپاره د دولتي ملاتړ وړاندیز وکړ. خو سید قطب او د هغه ټوله ډله د ولسمشر ناصر له ګوښه کولو پرته په بل هېڅ شي راضي نه وه. پایله یې دا شوه، چې حکومت یې ټول تحریک د مېچنې غوندې وځاپه. د پاکستان سید ابو الاعلی مودودي ( -۱۹۰۳) ته د پاکستان واکمنو د دعوتي او رغنیزو کارونو لپاره هر ډول ملاتړ ته سینه ډېولې وه. خو د هغه په نزد تر ټولو لوی کار د «بې دینه واکمنو» له اقتدار نه لرې کول و تر څو په پاکستان کې د اسلام مدني او اجرایوي قوانین نافذ کړای شي. د دې موخې لپاره مودودي او د هغه ټولې ډلې د خپل هېواد له مسلمانو واکمنو سره پرلپسې ډغرې ووهلې، خو د نوموړي دې بې ګټې غوندې خپلمنځي جګړو خو دا ګټه ونه کړه، چې په پاکستان کې اسلامي نظام ټینګ شي. البته په دې اخ و ډب کې د پاکستان بهترین فرصتونه برباد شول، تر دې چې پخپله د اسلامي تحریک سیاسي امکانات هم له لاسه ووتل. څکه اسلامي حکومت مازې په غوښتنو او مخالفانه فعالیتونه نه ټینګېږي. د اسلامي حکومت لپاره خورا اوږدمهاله طرحې پکار دي. خو د سنګر او مورچې په فضا کې د خاموشو طرحو په سیاست فکر کول هم ناشونی وي، د دې سیاست چلول خو ډېره لرې خبره ده.

زموږ د مصلحینو دې سیاسي ذوق تر ټولو لوی نقصان دا پېښ کړی دی، چې اسلام په هر اسلامي هېواد کې د واکمنې طبقې سیاسي مخالف ګرځېدلی دی. اوس هغوی اسلام ته کټ مټ په هماغه نظر ګوري، چې په امریکا کې کمونیست ګوند ته کتل کېږي. د اسلام په نوم چې هرکله دعوت راپورته شي، نو هغوی ته سمدستي وحشت دربرېږي. د اسلام کلمه په اوسنیو حالاتو کې د دوی لپاره د واکمنو د بې واکه کوونکي تحریک معنا خپله کړې ده. دوی له غیراسلامي خلکو سره د کار کولو لپاره د ازادي ورکولو ته زړه ښه کوي، خو دې ته نه راضي کېږي، چې د اسلام علمبردارانو ته د کار فرصتونه ورکړي، څکه په اوسنۍ فضا کې د هغوی په نزد د دې معنا دا ده، لکه د خپل اعدام په اسنادو باندې چې پخپل لاس لاسلیک وکړي.

په اوسنۍ زمانه کې د اسلام د بیا سرلوړاوي لپاره لومړنی کار دا دی، چې دغه فضا له منځه یووړل شي. اسلام د واکمنو له سیاسي مخالف ګرځېدو څخه وژغورل شي تر څو د اسلامي هېوادونو وسایل د اسلامي طرحو لپاره ترلاسه شي. او په نړیواله کچه د اسلام د دعوت او خپراوي ماموریت په لاره واچول شي، هغه چې ځمکه او اسمان ورته له پېړیو سترګې په لار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اهداف او واقعات

په تېرو شريعتونو کې د دين د حقيقت د محوه کېدو يوه وجه دا وه، چې د هغوی په نزد پيښې په موخو باندې برلاسې شوې. هغوی د دين هدفي اړخ په دين کې له پيښو شويو واقعاتو څخه جلا نه کړای شو او دا يې هېر کړل، چې د نظرياتو په پرتله پيښې تل نسبي او اضافي حيثيت لري. نو له پيښو څخه چې د دين کوم تصوير جوړېده، هغوی همدې ته د اصل دين په سترګه وکتل. او بيا يې د دين يوه داسې تشريح وپنځوله، چې له اصل اسماني دين سره يې هېڅ تعلق نه و.

د دې انحراف يو جزوي مثال هغه دی، چې د قرآن کريم په آل عمران (۹۳) او انعام سورت (۱۴٦) کې بيان شوی دی. يعقوب بن اسحق بن ابراهيم (۱۸۵۳- ۲۰۰۰ ق م) چې بل مشهور نوم يې اسرائيل دی، د يهودو پيغمبر و. دې پيغمبر د طبي اړتيا له مخې د ځينو خوړو خوراک پرې ايښی و. د اسرائيلي روايتونو له مخې يعقوب عليه السلام په عرق النساء مرض اخته و او د علاج لپاره يې له ځينو شيانو مثلاً د اوښ له شيدو او غوښې نه پرهېز نيولی و. له يعقوب عليه السلام وروسته د هغه اولادې هم د خپل مشر په تقليد کې دا دواړه پرېښودل، تر دې چې اخر په دې باور شول، چې دا شيان پخپل ذات کې حرام دي او بلاخره يهودي فقيهانو په خپل مقدس کتاب (تورات) کې د هغو حرمت ثبت کړ:

«په څارويو کې هغه چې شخوند وهي يا يې پښو کې فاصلې وي، ته دغه څاروي يانې اوښ، سوی او ګورکن مه خوره. ځکه دوی شخوند وهي خو پښې يې فاصلې نه لري، نو دغه څاروي ستا لپاره مردار دي.»

استثنا ۱۴: ۷ (احبار ۱۱: ۴- ٦)

د يهودو د يوه ستر پيغمبر ځينې خواړه نه خوړل، د هغه د ژوند مازې يوه تصادفي برخه وه او د هغه په پيغمبرانه رسالت پورې يې هېڅ تعلق نه درلود. خو يهودو دا فرق په پام کې ونه نيوه. او هغه څه چې مازې يوه تصادفي پېښه وه، له هغې نه يې د حرام او حلال د قوانينو استنباط ته مخه کړه. پايله يې دا شوه، چې هغوی د الهي دين يو داسې انځور وکاږه، چې په ظاهر کې خو سم و، مګر په اصل کې سر ترپايه نادرست و.

د دې انحراف يو کُلي مثال هم يوازې د يهودو په لمنه پيدا کېږي او هغه د هغوی اخرت فراموشي او دنياپرستي ده. يهود، د وروستي پيغمبر له بعثت نه دمخه، د الهي دين استازي وو. د خپل دغه تاريخ په شاوخوا دوه زره کلنه موده کې هغوی د عروج او زوال ډېرې سترې پيښې تر سترګو تېرې کړې وې. يوه لور ته د داؤد عليه السلام (۹٦۲- ۱۰۲۴ ق م) او سليمان عليه السلام (۹۳۲- ۹۹۰ ق م) په څېر لوی، لوی پادشاهان د هغوی په قوم کې راهسک شول. او د يوسف عليه السلام (۱۸۱٦- ۱۹۰٦ ق م) په څېر ستر شخصيت په هغوی کې وزېږېده، چې د هغه وخت د مصر پادشاه د ټول هېواد چارې ور وسپارلې او له هغه وروسته يهودو دا فرصت ومونده، چې د مصر په خورا اباده سيمه کې خپلې مېنې ابادې کړای شي. د فرعون له غرقېدو وروسته هغوی د شام او فلسطين د سرسبزې او کرنيزې سيمې وارثان وګرځول شوو. (اعراف: ۱۳۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل لوري ته د یهودو په تاریخ کې هغه بوږنوونکې شېبې هم راغلې، چې هغوی د خپلو بدیو له امله خداوند غوسه کړ. او د خداوند قهر په اسرائیلو راووربده او هغوی یې د یرغلګرو لاسونو ته وسپارل، چې هغوی د اسرائیلو په لوټلو لاس پورې کړ، او بیا یې اسرائیل د هغوی په شاوخوا کې د مېشتو دښمنانو په لاس وپلورل. تر څو هغوی د خپلو دښمنانو پر وړاندې د پاڅون جرأت ونه کړي. او هغوی به چې هر چېرته لاړل، د خدای لاس به د هغوی په اذیت کولو باندې پورې و. نو هغوی ډېر زیات تنګ راغلل. (قضاة ۲: ۱۱- ۱۷) له مصر نه له وتو وروسته د ۱۴۴۰ او ۱۴۰۰ قبل المیلاد په منځ کې شاوخوا څلوېښت کاله د هغوی دا حال و، چې د خپلې «ګناه او لوز ماتونې» په جرم کې د سینا په دښته کې (د فاران له دښتې تر ختیځ اردنه پورې) لالهانده او سرګردانه تاوېدل. ځکه د هغوی په اړه خداوند دا ویلي و، چې «زه به دې ټولې خبیثې ډلې سره، چې زما په مخالفت کې راټول دي، همداسې کوم. په دې دښته کې به دوی بربادېږي او همدلته به هلاکېږي. (اعداد ۱۴: ۳۴-۳۵) په ۷۲۱ قبل المیلاد کې د اشور سرسخت فرمانروا سارګون سامریه فتحه کړه او د اسرائیلي دولت وجود ته یې د پای ټکی کېښود او زرګونه یهودیان یې له تېغه تېر کړل. له ۲۷زره نه هم ډېر یهود یې له خپل هېواد نه وشړل او دانه وانه یې کړل. خو چې کله بېرته اباد شول، نو په ۵۹۸ قبل المیلاد کې د بابل پادشاه بخت نصر په یروشلم برید وکړ او د یهودیه پاچا یې ځان سره بندي وېووړ. په دوهم ځل په ۵۸۷ ق م کې بخت نصر تر پخوا شدیده حمله وکړه او د یهودیه ټول واړه او لوی ښارونه یې په کنډوالو بدل کړل. یروشلم او سلیماني هیکل یې ړنګ کړل او له خاورو سره یې برابر کړل. وروسته د یهودو حالات بدل شول او بېرته یې خپل هیکل او خپل ښارونه په اباد کړل. خو په ۷۰۰ ق م کې بیا تیتس رومي د تورې په زور یروشلم فتحه کړ او د بایبل د بیان له مخې د یهودو ۱۳۳ زره وګړي یې ووژل او ۲۷ زره سړي یې ژوندي ونیول، تر څو په وحشي حیواناتو یې وداړي او د توره چلوونکو د لوبو د تمرین په حیث یې وکاروي. نوموړي یروشلم او مقدس هیکل یو ځل بیا ړنګ کړل او له ځمکې سره یې یو کړل.

د یهودو په دوه زره کلن لرغوني تاریخ کې د دغه راز لوړو ژورو واقعات بیا بیا ځلې پېښ شوي دي. کله هغوی له دنیوي عیش او اقتدار نه خوند اخیستی، کله یې د دنیوي خواریو او بربادیو دردونه تېر کړي دي. د هغوی انبیاوو به بیا بیا ځلې دا پېښې وریادولې او هغوی ته به یې نصیحتونه کول. خو پایله یې دا شوه، چې ورو په ورو د هغوی دا ذهن جوړ شو، چې د خدای انعام او سزا دواړه په همدې دنیا کې بنده ته رسېږي. هغوی د جنت او جهنم دنیوي تعبیر بیان کړ. او بیا یوه بله مرحله پیل شوه. دې فکرونو د هغوی مقدس کتاب ته هم لاره وکړه. نوبت دې ځای ته ورسېده، چې اوس چې د اسماني کتاب په نوم هغوی سره کوم کتاب (تورات) دی، په هغه کې د دنیوي جنت او دنیوي جهنم په تفصیلاتو خو پوره، پوره څپرکي ډک دي، خو د اخرت د جنت او جهنم یادونه هېڅ هم نه په کې ترسترګو کېږي. که چېرې وي هم، نو مازې د اشارې تر بریده.

د دې پایله دا شوه، چې د یهودو ذهنیت خورا ډېر دنیاپرسته شو. چې کله هغوی همدا دنیا د خدایي انعاماتو مقام وبلله، نو بالکل طبیعي خبره وه، چې هغوی به د دنیا په ژوند تر وروستي بریده مینېږي. د قرآن کریم په ټکو کې د هغوی حال داسې شو چې «او ته به دا یهودان خامخا له (ټولو) خلکو زیات د ژوند حریصان مومې  او له هغو نه هم چې مشرکان دي. هر یو یې دا غواړي چې ارمان زر کاله عمر ورکړی شوی وای.» د مال په مینه کې د هغوی د اکثریت حال دا شو چې «که ته یې په یو دینار امین کړې، نو هم یې بېرته نه درسپاري. مګر که تل پرې ولاړ وې.» د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې مطلب دا نه دی، چې د هغوی دنیاپرستي له سوچه «فکري» حیثیت ښخمنه وه. د دنیا ټولې بدۍ په اصل کې د نفس پرستي بدۍ دي نه په حقیقي معنا کې فکري بدۍ. خو د نفس پرستي هر ډول ابتدا د ساده او معصومو فکرونو په څمکه زرغونېږي. د فکري بنیاد له اسرې پرته هېڅ بدي په ځمکه باندې ریښنه نه شي ټینګولی. قرآن کریم لومړی ځل انسانیت له دې بې لارۍ نه راوایسته. قرآن کریم، نظریه او تاریخ دواړه سره جلا کړل. او اصل دین یې داسې ښکاره او څرګند بیان کړ، چې د خدای د هېڅ بنده لپاره په حقیقت باندې په پوهېدو کې شک و شبه نه شي پاتې کېدی.

په قرآن کریم کې حکم شوی دی:

«شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلاَ تَتَفَرَّقُوا فِيهِ» (الشورى: ۱۳)

ژباړه: تاسو ته یې هماغه دین ټاکلی (بیان کړی) چې په هغه سره یې نوح ته سپارښتن کړی و او هغه چې تاته مو وحي کړی او چې په هغه سره مو ابراهیم، موسی او عیسی ته سپارښتن کړی و، چې (همدغه) دین ترسره کړئ او اختلاف مه پکې اچوئ.

د دې آیت په تړاو ټول مفسرین په یوه خوله دي، چې په دې کې له «الدین» نه مراد اصولي او اساسي لارښوونې دي. دلته تفصیلي شریعت ورنه مراد نه دی. د دې تفسیر وجه دا ده، چې په آیت کې دا حکم دی، چې هغه متفق علیه دین ترسره کړئ، چې ټولو انبیاوو ته ورکول شوی و. دا چې د قرآن کریم د تصریح له مخې د بېلابېلو انبیاوو په شریعت او منهاج کې اختلاف و (مائده: ۴۸) نو څکه په شریعتونو باندې په یوه اتفاق عمل نه شي کېدی. یوازې د دین د اساساتو په برخه کې دا ممکن دي، چې په متفق ډول په هغوی عمل ترسره شي. څکه اساسي لارښوونې د ټولو په نزد یو شان وې.

د دې حکم له لارې د انبیاوو د دعوت او د انبیاوو د تاریخ ترمنځ د نوعیت فرق واضح کړای شوی دی. ماموریت که هر څو یو وي، خو تاریخونه یې تل بېل بېل جوړېږي. د مختلفو انبیاوو په شاوخوا کې چې کوم جدا جدا تاریخي مثالونه جوړ شول یا د هغه مهال د حالاتو له مخې د هغوی په ژوند کې چې کوم تصادفي اجزا ورګډ شول، په قرآن کریم کې دغه اجزا د هغوی له اصلي رسالت ښخه جدا کړای شوي دي او ثابتو او ابدي لارښوونو ته د «الدین» حیثیت ورکول شوی او حکم شوی دی، چې اصلي او تلپاتې اهمیت همدې ته ورکړئ او د همدې ترسره کولو ته متې در واړوئ.

هر نبي د خپلو حالاتو له مخې یوه ځانګړې تګلاره غوره کوي. د پیغمبر دغه عمل یوه مهالنۍ بېلګه خو ارومرو وي، خو دغه عمل یې دایمي حجت نه ګرځي. مثلاً حضرت سلیمان علیه السلام د یمن مشرکې ملکې ته د جګړې ګواښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړ. حضرت یوسف علیه السلام د مصر له مشرک پادشاه سره د ملګرتیا او همکاري طریقه غوره کړه. حضرت مسیح د فلسطین له مشرکو واکمنو سره هېڅ غرض ونه کړ. همدا عملي فرق په انفرادي چارو کې هم دی. مثلاً حضرت موسی د مدین په یوه نېکه کورنۍ کې واده وکړ او مَهر یې اته کاله خدمت وټاکل شو. د حضرت علي رض نکاح چې د پیغمبر له لور سره وشوه، نو په مهر کې یې یوه زغره ورکړه. او داسې نور. په اصلي لارښوونو او عملي تفصیلاتو کې دغه راز فرق لازمي دی. او زیاتره وختونه انحرافات څکه پیدا کېږي، چې دغه فرق په پام کې نه نیول کېږي. یوې عملي بېلګې ته هغه اهمیت ورکول شوی وي، چې په اصل کې باید اصولي امر ته ورکول شي.

د دین د اساساتو او د دین د فروعاتو دغه فرق چې په ذهن کې وي، نو ربښتونې خدای‌پرستي پیدا کېږي. د ډلبندي امکانات ورسره پای مومي. دیني هلې ځلې په خپل اصلي مسیر کې ځای مومي. بنده له دې فتنې نه ژغورل کېږي، چې د دین په نوم د یوه داسې شي لپاره سنګر تینګ کړي، چې په حقیقي معنا کې د ده لپاره د دیني فریضې حیثیت نه لري.

د دې فرق یو حکمت دا دی، چې اصلي دین او نور تفصیلات د مجموعي لیکلړ حیثیت نه لري. بلکې عملي تفصیلات، د اصلي دین لپاره د لوازماتو او نتایجو حیثیت لري. که اصلي دین تخم وي، نو عملي تفصیلات یې ځانګې دي. اصلي دین چې کله ترسره شي، نو اضافي تفصیلات هم، له حالاتو سره سم، ورو په ورو وجود مومي. اصلي دین په مطلق ډول تل مطلوب وي. حال دا چې عملي تفصیلات د هغو واقعي حالاتو له اړخه مطلوب وي، چې یو شخص عملاً خپل ځان په کې ویني.

> **محرومي هغه وخت محرومي ده، چې په بنده کې تُندي او ناهیلي پیدا کړي. خو محرومي هغه وخت د پرمختګ زینه ګرځي، چې د بنده د پټو وړتیاوو راوښوونکې ثابته شي.**

دا غلطپوهاوی باید نه وي، چې له اصلي دین پرته چې د دین کومې نورې غوښتنې دي، په هغو باندې عمل کولو ته اړتیا نشته. دا حکم یوازې د مسئلې نوعیت راښیي، نه دا چې یو شی اړین دی او دا بل نا اړین. د دې مطلب دا دی، چې له اصولي او اساسي پلوه چې له بندګانو کوم څه مطلوب دي، هغه یوازې هماغه «الدین» دی، چې د ټولو انبیاوو په نزد مشترک دی، فرق نه کوي، چې په هر حال او هر ځای کې یې چې وخت تېر کړی وي. له هغه وروسته فرعي مسایل او غوښتنې چې دي، هغه د حالاتو په نسبت پیدا کېږي. په هغو کې به ارومرو فرق هم وي، او کمی او زیاتی هم. د همدې لپاره په دې ډول فرقونو جګړې مه کوئ. د خپلو حالاتو له مخې خپل فرایض ادا کوئ، او خپله ټوله توجه په اصلي دین متمرکزه ساتئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په دریځ ننداره** روانه وه. نندارچیانو ته راز، راز لوبې ښودل کېدې. په دې وخت کې یو «انسان» د خلکو مخې ته راوړل شو. دې انسان په عجیبو، عجیبو تماشو د خلکو په خوشالولو لاس پورې کړ. خو لوبه پای ته نه وه رسېدلې، چې د نندارچیانو له منځه یوه شخص د دې «انسان» په لور یوه تیږه وار کړه. هغه «انسان» یو لوی خېز وواهه. شاید غوښتل یې تر بریدګر پورې ځان ورسوي. خو دی ځلورو خواوو ته نصب شویو لاسپیکرو سره ولګېده. له دې لګېدو سره د هغه د څېرې نقاب وغورځېده او معلومه شوه، چې دی په حقیقت کې یو حیوان دی، چې د انسان په جامه کې یې خلکو ته ننداري وړاندې کولې.

د دریځ په سر به دا پېښه شاید یوازې یو ځل پېښه شوې وي. خو په انساني کلیو باندې کې دا ډول واقعات هره ورځ زموږ مخې ته راځي. خلک په ظاهر کې له انسانوزمه څېرو سره لیدل کېږي. خو که کومه داسې خبره پېښه شي، چې د هغوی غوسه وپاروي، نو هغوی سمدستي خپله انساني جامه غورځوي او په همدې شېبه کې معلومه شي، چې هغوی په اصل کې حیوانات وو. البته خپل ځان یې په انساني نقاب کې پټ کړی وو. د مزاج خلاف خبره چې ورپېښه شوه، نو سمدستي په خپله اصلي بڼه کې راښکاره شول.

په لاشعور (د انسان اصلي شخصیت) باندې د پوهېدو بهترین اروایي وخت هغه وي، چې کله بنده په ذهني اختلال مبتلا وي. دغه راز د شکایت او اختلاف وخت هم د بنده لپاره د دین او اخلاقو امتحان دی. خو عجیبه خبره ده، چې انسان په هماغه ځای کې ماتې خوري، چېرته چې باید تر ټولو ډېر د کامیابي ثبوت ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دغه راز پېښې د بزرګۍ ثبوت نه دي

سيک‌ديو پرشاد بسمل اله آبادي (۱۹۷۵- ۱۸۹۳) د اردو ژبې شاعر و. په ۲۳ نومبر کې نوموړي يو غزل ليکلی و، چې يو شعر يې داسې و:

**بسمل راغلی و تنها، بسمل به لاړ هم شي تنها**

په سبا ورځ ۲۴ نومبر ۱۹۷۵ز کې يې له نړۍ نه سترګې پټې کړې.

***

## ادبي استدلال

ملک خدای بخش مشهور اسلامي قانونپوه تېر شوی دی. دی د انګرېزانو په هندوستان کې لوی څارنوال و او له ۱۹۳۲ نه تر ۱۹۳۷ پورې په ولسي جرګه کې د مخالف ګوند مشر و. ده له بريتانوي خبريال بيورلي نکلس سره په يوه ليدنه کې په ډېر ټينګار دا خبره وکړه، چې:

«هندوان هڅه کوي، چې اردو ژبه لیرې کړي او هندوستاني ژبې ته ځای خالي کړي. خو اردو ډېر مقاومه ژبه ده. تاسې پوهېږئ، چې «اردو» وييکی څه معنا لري؟ د اردو معنا لښکر دی. ګواکې اردو يو لښکر دی، چې هندوستاني ژبه يې هېڅ کله نه شي فتحه کولی.»

دغه راز استدلال مازې ادبي استدلال وي او اړينه نه ده، چې اصل واقعيت دې هم له ادبي استدلال سره همغږې ولري.

د شعر و شاعرۍ او وينا‌ولی له عامېدو سره زموږ په ذهني ژوند کې چې کوم مرضونه راپيدا شوي دي، له هغو نه يو دا هم دی، چې په موږ کې سوچه حقيقت‌پلوی او ساينسي فکرطرز پيدا نه شو. څومره عالي‌ذهنه خلک د همدغسې دلايلو په اسرې په پېړيو، پېړيو ژوندي وو. تر دې چې کله بې دغو خيالي دلايلو له بيروني حقايقو سره ټکر وکړ، نو هله معلومه شوه، چې دوی سره خو اصلاً هېڅ دليل نه و.

# پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**